الآية
أدع إلى سبيل ربك بالحكمة والموعظة الحسنة وجادلهم بالتي هي أحسن

دعوت

د توحید او جهاد مجله

۲۱ گڼه

د افغانستان د جماعة الدعوة الى القرآن والسنة د افکارو خپرونکې

که د کابل ښار د قدرت ګټمارو د مسابقې په ډګر بدل شي نو جماعة الدعوة به پکې برخه وانه خلي

د جماعة الدعوة سیاسي مشاور ابو عبید



الهی فرمان

بسم الله الرحمن الرحیم

ومن الناس من یعجبك قوله فی الحیوة الدنیاویشهدالله علی مافی قلبه و هوألدالخصام○ و اذا تولی سعی فی الأرض لیفسد فیها ویهلك الحرث والنسل والله لایحب الفساد○

(البقره - ۲۰٤)

ترجمه:او دخلکو یوه ډله ده چه په دنیا کی د دوئ خبری ستا لپاره د تعجب او حیرانیتا وړدی او دوئ په خپلو زړونو باندی الله گواه نیسی په داسی حال کی چه دوی سخت دښمنان دی. کله چه دوئ ته په ځمکه کی اقتدار وسپارل شی هلته فساد کوی، فصلونه او نسلونه تباه کوی او الله تعالی مفسدین نه خوښوی.

بسم الله الرحمن الرحيم

قل هذه سبيلي ادعو إلى الله على بصيرة أنا ومن اتبعني وسبحان الله وما أنا من المشركين

سورة يوسف (١٠٨)

دعوت

دتوحيداو جهاد مجله

دامتیاز خاوند: دافغانستان جماعة الدعوة الى القرآن والسنة

مؤسس: شهیدشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله)

سرپرست: الشیخ سمیع الله

دریم کال- پر له پسی گڼه (۲۱) د۱٤۱۲هـ ق کال د ذوالقعدة میاشت د۱۹۹۲کال د مئ میاشت

ددی گڼی مطالب

(عنوان)	(مخ)
* سرمقاله	۲
* تعلیمات اسلامی	٦
* د جماعة الدعوة لوړ رتبه هیئت په کابل کی	۱۰
* د جماعة الدعوة سیاسی مشاور سره مرکه	۱۲
* د اسلامی حکومت د تاسیس لاره	۱۸
* د امام بخاری (رحمه الله) ژوند ته یوه کتنه	۲۳
* دښمن موو پیژنئ	۲۸
* د خاوری، ژبی، رنګ	۳۳
* په اسلامي نړۍکی څه تیریږی	۳۷
* د ماسونیت او هغه د منسوبو کسانو پحقله شرعی فتوی	٤۰
* دیموکراسی	٤۲
* د اقتدار چوکۍ	٤٦
* راسرموږاړی	٤۷
* د ازادی پسرلی	٤۸
* د لیکونو بهیر	٤۹

دهیئت تحریر تر نظارت لاندی

په پاکستان اونورو بهرنیو هیوادونو کی زموږ نمایندګان

په داخل کی: لعل محمد «افسوس»

اسلام آباد: عفیف احمد

پیښور: غنی الله «مسلم»

لاهور: حماد شاکر

کراچی: چوهدری ظهور احمد

کوئټه: عرفان منګل

مظفر آباد: بشیر قریشی

سعودی عرب: فیضان الله

امریکا: عبدالرحمن احمد

بریطانیا: منور علی

جرمنی: وائی - ایم حمیم

هالینډ: عماد الدین بکری اسماعیل

داشتراک وجه:

په پاکستان کی

میاشتنی ګڼون: ۱۰کلداری

کلنی ګڼون: ۱۰۰کلداری

په نورو بهرنیو هیوادونوکی

میاشتنی ګڼون: ۲ امریکائی ډالر

کلنی ګڼون: ۱۰ ډالر

مکاتباتی پته: «دعوت مجله» - پوست بکس نمبر ٦۱٤ پشاور پاکستان

بانکی حساب: جماعة الدعوة الى القرآن والسنة - اکاونټ نمبر ۱۹٤٦٥ - حبیب بینك کینټ - صدر روډ - پشاور.

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

د مجاهدینو د حکومت یوه میاشت

افغانستان نن سبا د نړیوالو د توجه مرکز دی، په گاونډیو هیوادو کی اوسیدونکو افغانانو چه کلونه کلونه یی د خپلو او پردو ناکردی زغملی دخپل جنگ زپلی هیواد په لور سترگی اړولی او په خپل ملك کی دامنیت د ټینگښت او د اسلامی حکومت تأسیس ته لیواله ښکاری، عالم اسلام چه د تیرو څوارلسو کالو په اوږدو کی ئی له مجاهدو افغانانو سره مادی او معنوی مرستی کړی او په نړیوالو کنفرانسونو کی یی دافغانستان د مجاهد ولس د جهاد اوحقه مبارزی ملاتړ کړی او د روسانو تعرض او تجاوز یی غندلی او په کابل کی یی دکمونستی حکومتونوسره خپل ټول سیاسی او تجارتی روابط قطع کړی وو هم نن په دی هیواد کی دمجاهدینو د کاملی فتحی او اسلامی انقلاب دبریالیتوب غوښتونکی دی او دجهاد دښمنانو هم زمونږ د هیواد حالاتو ته سترگی برندی کړی او دا خوږی هیلی په زړه کی روزی چه جهادی نهضت به د هیواد په اداره او کنټرول کی ناکام شی او د دوی هغه ادعا به په کرسی کیښینی چه ویل به ئی: مجاهدینو د جگړی میدان گټلی، روسان ئی له ملکه شړلی خو د مملکت د اداری قدرت او صلاحیت نه لری او باید دمجاهدینو د بریالیتوب او ویاړونو په دلیئ دوی مزی چړچی وکړی.

د جهاد رهبرانو، داسلامی لښکرو قومندانانو او علماؤ د جهاد د دښمنانو دغه ادعاگانی رد-ولی، هغه یی د جهادی تحریك د ناکامولو لپاره دسیسه گڼله او مدعی وو چه مجاهدین به لکه

ځنګه چه یی څوارلس کاله د نړۍ له ستر مادی طاقت سره په میړانه ډغره ووهله او له خپل هیواد څخهٔ په تیښته مجبور کړ دغه شان به دخپل هیواد د اداری سیستم په جوړولو او پر مخ بیولو کی د خپل مؤمنانه فراست او جهادی قوت مظاهره وکړی.

لنډه دا چه افغانستان په نننی عصر کی د اسلام او کفر د جګړی او په یو بل باندی د فتحی او برلاسۍ ستر ډګر جوړ شوی دی دلته که یو طرفته زمونږ د ملیونونو شهیدانو دکونډو او یتیمانو فریادونه او سوی ساندی دی چه د جهاد مشرانو او داسلامی حکومت مسئولینو ته د دوی درانده وظایف ور په نخښه کوی او ورته وائی ای د مقدس جهاد سالارانو! ای د اسلام د پت او عزت ساتونکو!ګورۍ چه زمونږ په قربانیو لوبی ونه کړی، د جهاد اهداف ونه پلورۍ او د مقدسی جګړی مقصد چه یوازی او یوازی د الله د کلمی لوړتیا او له افغانستان څخه د کفر او کمونیزم د فاسد نظام دمنحوس ټغر ټولول وو د اقتدار په جګړه بدل نه کړی نو بل خوا د کمونیست رژیم د بقایاؤ سازشونه او دسیسی دی چه غواړی د جهادی ځواکونو تر منځ د بی اتفاقی د اور په بلولو سره د ځان لپاره د بقا زمینه برابره کړی او دافغانستان جهادی تحریك بد نام کړی.

دا دی یوه میاشت تیریږی چه د افغانستان ټول جهادی قوتونه د کابل د سرو او سپینو خاوندان دی او دمملکت د اداری ټولی چاری دوی ته سپارل شوی دی، هغه جهادی قوت چه دروس په شان مادی زبرځواك یی نه یوازی دا چه له خپل هیواد نه په شرمیدلی ماتی سره وشاړه بلکه د هغه استعماری وجود یی داسی ټوټی ټوټی کړ چه نه ورته د کمونیزم ایډیولوژی پاتی شوه نه ورته د لور او څټك نښان پاتی شو، نه یی جغرافیه پاتی شوه، نه یی د وارسا دټرون قلمرو پاتی شو او نه یی هغه مادی او سیاسی قوت پاتی شو چه د نورو هیوادو د استثمارولو لپاره به یی تری کار اخست، هغه نومیالی جهادی قوت چه په افغانستان کی یی د

ډیرو کمونستی جنایت کارانو ناوړی آرزوگانی خاوری کړی، د ببرك کارمل بدمعاشی یی په ځمکه را وویشته او دنجیب د ملی پخلاتوب دسیسه یی شنډه او د دفاع خود بخودی د غرور چیغه یی ورته په ستونی کی وچه کړه.

خو نن داسی ښکاری چه دغه قوت دخپلو درندو وظایفو په سرته رسولو کی ستومانه او بی وسی دی. د افغانستان ټول وجود د امنیت سا اخستی او د مجاهدینو د مشترکو شوراگانو له خوا یی چاری په ښه ډول سرته رسول کیږی خو زمونږ د هیواد زړه د کابل ښکلی ښار لا تر اوسه په بدامنه ډول درزیږی او د مرگ او ژوند په کشمکش کی پروت دی دا ځکه چه د اقتدار چاری یی د هغو کسانو په لاس دی چه د جهاد د رهبرئ او د مجاهدینو داعلی قومندانی ادعا کوی.

د دوی د اقتدار په یوه میاشتنۍ دوره کی کابل د خونړیو خپل منځی جگړو شاهد ؤ. د کابل د ښاریانو هغه ستره خوښی چه د مجاهدینو د فاتحانه راتگ لپاره یی په زړونو کی روزله او د خوښئ هغه بی ساری ترتیبات چه د ښار خلکو د مجاهدینو د رهبرانو لپاره نیولی وو دغم او ماتم په مجلسونو بدل شول په ښار کی امنیت ټینگ نه شو، دښار وجود د تنظیمونو له خوا ټوټه ټوټه شو او په هره برخه یی د جلا جلا حکمر وائی بیرغونه هسك شول. د مسلحو رقیبو ډلو تر منځ تاو تریخوالی ورځ په ورځ زیاتیږی او دلوټ مار داسی پیښی رامنځته شوی چه د خارجی یرغلگرو قواؤ له خوایی هم د تاریخ په اوږدو کی ساری نه لیدل کیږی. د کابل موزیم روسانو لوټ کړی ؤ او عامه کتابخانه او د پوهنتون کتابتون چه د هیواد ستری علمی ذخیری وی د مجاهدینو له فتحی نه وروسته لوټ شوی، ملی آرشیف چه په زرگونو ډول خطی نسخی پکی دسوونو کلونو راپدیخوا خوندی ساتل شوی وی د غلو او لوټمارانو له خوا دنومیالیو مجاهدینو د اقتدار په دی نیکمرغه دوره کی له منځه لاړی.

د ژبني، قومي، سمتي او تنظيمي رقابتونو د اور لمبې ورځ په ورځ پورته کيږي، د اقتدار غوښتنې د حرص سمندر هره ورځ تر بلې زيات پسې طوفاني کيږي، د شورا او مشورې هغه اساس چه قرآن مبارك په نخښنه کړي او دبشريت لارښود هر وخت په خپل نيکمرغه ژوند کې عملي کړي او ورباندې يې تاکيد کړی کاملاً له منځه تللی او هر څوك غواړي چه خپلې تنظيمي آرزوګانې اشباع کړي.

نه پوهيږو يوه مياشت وروسته چه د جهادي شورا د رئيس پوهاند مجددي د اقتدار دوره سرته رسيږي او د پيښور دهغې معاهدې په اساس چه يوازې د اوو تنظيمونو مشرانو په خپل منځ کې لاس ليك کړی وه او نور جهادي قوتونه ئې ترې بې برخې کړي وو بايد اقتدار قيادي شورا ته وسپاري د څه ډول شرايطو او حالاتو آسمان به زمونږ په زوريدلي ملت را پريوزي.

زمونږ دعا دا ده چه الله تعالی دې جهادي مشرانو او ټولو مجاهدينو ته داتفاق او اتحاد توفيق ور په برخه کړي او د ځان ځانۍ له مهلك مرض څخه دې يې وژغوري.

دوی بايد دخپلې پوهې اوعملي پانګو سره سره له تاريخي تجربونه عبرت واخلي او افغانستان کې دتيرو رژيمونو د واکمنانو سرنوشت په نظر کې ونيسي چه دبې اتفاقيو او ځان غوښتنې په وجه څنګه يوبل پسې رانسکور شول.جهادي مشران بايد د الله تعالی د رضا، دجهاد دلوړو اهدافو دسرته رسولو او دافغانستان د مسلمانانو د خير ښيګڼې په خاطر له خپلو ټولو شخصي او تنظيمي غوښتنو څخه تير شي او داسلامي حکومت د استقرار لپاره دې دايثار روحيه خپله کړي. همدغه ده زمونږ د دنيوي او اخروي نيکمرغۍ لار، دالله تعالی د رضا لار او د تاريخ او راتلونکی نسل له پړې څخه د ژغورنې لار.

وما علينا الا البلاغ.

تعلیمات اسلامي

بحثی پیرامون کلمه طیبه لا اله الا الله

رحیم گل «توحید یار» زیاړه

بسم الله الرحمن الرحیمO

فاعلم انه لا اله الا اللهO.

(سورة محمد)

ترجمه: یقیناً بدانید که جز الله تعالی کس دیگری لایق و سزاوار عبادت نیست.

یکتائی وبی همتابودن الله تبارك وتعالی را توحید می نامد.الله تعالی قبل ازهمه درعالم روانی، اقرار و اعتراف و تصدیق توحید ربوبیت و توحید الوهیتش را اخذ نموده بود. توحید ربوبیت را معنی چنین است که تنها ذات اقدس الهی است پرورش دهنده و روزی دهنده وتهیه کننده همه لوازم نمو و پرورش و او یگانه ذاتیست که به همه روزی میدهد واز همه نگرانی وحفاظت وحراست می نماید وهنگام ضرورت به او تعالی مراجعه و استغاثه میشود وذات او یگانه مرجعیست که دردها و رنجها را مداوا میکند،نه ازکسی امداد می طلبد ونه احساس ضرورت به کومك دیگران دارد و توحید الوهیت چنین است که او تعالی در ذات و صفاتش یکتا وبی همتاست و مستحق ولایق عبادت و عظمت وتقدس همه گونه است. در قرآن عظیم الشان می خوانیم:

واذ اخذ ربك من بنی آدم من ظهورهم ذریتهم و اشهدهم علی انفسهم الست بربکم قالوا بلی شهدناO

(سورة اعراف)

ازحضرت ابن ابی کعب رضی الله عنه در مسند احمد ضمن تفسیر این ایه کریمه مرویست که الله تبارك وتعالی دست برپشت حضرت آدم علیه السلام نهاد وهمه روانیکه تاروز قیامت موجود میشوند از پشت آدم برون آمد، همه را بر گروه ها منقسم ساخت واجسام وصورتها را برای شان ارزانی داشت نیروی نطق وسخن برای شان اعطا فرمود سپس فرمود:

الست بربکم.

آیا من پرورگار شما نیستم؟ همه اقرار و اعتراف نمودند: اری! تو پروردگار و مالك حقیقی مای.

الله تعالی فرمود، هفت اسمان وزمین وپدرتان آدم علیه السلام را

احمد شاه (Ahmad Shah) A. K. P. O.

برشما گواه می گیرم که شما بر ربوبیت من تصدیق نمودید چنین نشود که از اقرار وتصدیق تان پا به عقب بکشید و ابرازناخبری نمائید:

«اعلموا انه لا اله غیری»

یقیناً بدانید که جز من لایق ومستحق عبادت کسی نیست وجز من پروردگاری در جهان نیست،شریك وهمباز بامن مه تراشید، من برای یاد آوری این قول و اقرار شما پیامبران ورسولان راخواهم فرستاد وکتابهائی را نازل خواهم کرد.همه اقرار کردند لااله لنا غیرك.

الله تعالی برای یاد آوری این کلمه طیبه ارسال پیامبران را به جهانیان اغاز نمود طوریکه در قرآن مبارك ارشاد است:

وما ارسلنا من قبلك من رسول الانوحی الیه انه لا اله الا انا فاعبدون.

ترجمه:وهر پیامبری که پیش از تو فرستاده شده این پیام را برایش وحی می کردیم که جز من کسی دیگری لایق ومستحق عبادت نیست، پس مرا بپرستید.همه پیامبران مردم رابه عبادت ذات یکتای الله تعالی فرامی خواند.هنگامیکه حضرت آدم علیه السلام را به دنیا می فرستاد پیام خداوند متعال این بود که:

فا مایاتینکم منی هدی فمن تبع هدای فلا خوف علیهم ولاهم یحزنون.

(سورة بقره)

ترجمه:اگر هدایتی ازجانب من بشما رسید، آنرا تعمیل نمائید، آنا نیکه ازهدایت من پیروی میکنند هیچگونه اندوه و هراسی باودست نخواهد داد.

درباره حضرت نوح علیه السلام می فرماید:

لقدارسلنانوحاً الی قومه فقال یا قوم اعبدوا الله مالکم من اله غیره انی اخاف علیکم عذاب یوم عظیمO(سورة اعراف)

بدون شك نوح را بحیث پیامبر نزد قومش فرستادیم پس وی گفت ای قوم من، تنها از الله تعالی پرستش کنید، جزوی معبودی برای شمانیست (وآگر از اطاعت او سرباز زنید) می هراسم از آمدن روز یکه بر سر شما بیاید و دارای مصیبت وعذاب بزرگ باشد.

در باره حضرت هود علیه السلام می فرماید:

و الی عاد اخاهم هودا قال یا قوم اعبدو الله مالکم من اله غیره افلاتتقونO.(سورة اعراف)

و به قوم عاد برادرشان هود را بحیث پیامبر فرستادیم وی گفت:ای قوم من تنها از الله تعالی عبادت کنید وبدانید که جزالله تعالی معبودی برای شما نیست پس آیا(ازشرك) اجتناب نمی کنید؟

درباره حضرت صالح علیه السلام می فرماید:

والی ثمود اخاهم صالحا قال یا قوم اعبدوا الله مالکم من اله غیرهO (سورة اعراف)

و به قوم ثمود برادر شان صالح را بحیث پیامبر اعزام داشتیم وی خطاب

به قومش گفت: ای قوم من تنها الله تعالی را بپر ستید بجز وی معبودی برای شمانیست.

وهمچنین بود داستان حضرت شعیب وحضرت ابراهیم علیهم السلام که هر کدام به افراد ملت شان پیرامون توحید الهی توصیه می کردند وهمه را بسوی اطاعت وپرستش ذات اقدس احدیت دعوت می کردند.

قرآن عظیم الشان از قول حضرت یوسف علیه السلام می فرماید:

یا صاحبی السجن ءارباب متفرقون خیر ام الله الواحدالقهار ما تعبدون من دونه الااسماء سمیتموها انتم واباءکم ما انزل الله بها من سلطان ان الحکم الالله امر ان لا تعبدوا الا ایاه ذلك الدین القیم ولکن اکثر الناس لایعلمونO (سورة یوسف)

ترجمه:ای دوستان زندانی ام، آیا معبودان جداگانه بهتراند یا معبود یکتا و واحد وآنا نیراکه شما می پرستید جز نامهای میان تهی که شما وپدران تان تراشیده اید چیز دیگری نیست، خداوند پاك برای پرستش آن حکمی ودلیلی فرونه فرستاده است. تنها از امر الله تعالی باید تعمیل گردد وحکم الله تعالی اینست که جز الله تعالی از کس دیگری پرستش نشود، همینست راه راست اما بیشتر مردم نمی دانند.

ازآیات متبرکه فوق قرآن عظیم الشان به روشنی هوید است که امر الله متعال به تمام انبیأ وپیامبران

لااله الاالله بود امارسالت مطابق به عصر وزمانش فرق می کرد یعنی کلمه طیبه درزمان حضرت آدم علیه السلام عبارت بود از لااله الا الله آدم نبی الله، در زمان نوح **لااله الا الله نوح رسول الله**.درزمان حضرت ابراهیم علیه السلام **لااله الله ابراهیم رسول الله**، درزمان موسی علیه السلام لااله الاالله *موسی رسول الله*، در زمان حضرت عیسی علیه السلام **لا اله الاالله عیسی رسول الله** ودر عصر فرخنده حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم *لااله الاالله محمدرسول الله* بوده *است.*

جزء نخست کلمه (لااله الا الله) برای همه پیامبران وانبیأ علیهم السلام یکسان بوده وهمه شان باین کلمه مردم را دعوت میکردند کسانیکه این کلمه رامی پذیرفتند بنام مسلمان یاد ومستحق جنت شناخته می شدند وآنانیکه ازین کلمه سر باز می زدند و ازآن انکار می کردند نافرمان و مستحق جهنم قرار می گرفتند واز همین جهت است که شناخت این کلمه طیبه وعمل کردن برآن وجیبه مسلمانان است.

فضیلت کلمه طیبه:

رسول الله صلی الله علیه وسلم می فرماید:

ما من عبد قال لااله الا الله ثم مات

على ذلك الا دخل الجنة (مسلم)

يعنی کسیکه اقرار کند بر لااله الاالله وبعداً بمیرد داخل جنت می گردد.

حضرت ابوبکر صدیق رضی الله می فرماید من از رسول الله صلی الله علیه وسلم پرسیدم ذریعه نجات در دین اسلام چیست. پیامبر اکرم فرمود:

من قبل منی الکلمة التی عرضها علی عمی فردها فهی له نجاة. (احمد)

یعنی کلمه ای راکه من اورده ام وبه کاکایم ابو طالب تقدیم داشتم و وی آنرا رد نمود کسی بپذیرد این کلمه برای عقیدت مندان وگروید گان آن وسیله نجات است.

همین کلمه باعث رفع آلام ومصایب دنیوی است وکسی که آنرا بکثرت قرائت می کند جان ومالش در ایمن الهی قرار می گیرد. رسول الله صلی الله علیه وسلم می فرماید:

امرت ان اقاتل الناس حتی یقولوا لااله الا الله فمن قالها فقد عصم منی ماله ونفسه الا بحقه وحسابه علی الله.

(بخاری شریف، مسلم).

ترجمه: بمن دستور داده شده که تا زمانی علیه مردم به نبرد پردازم تا به کلمه لااله الا الله اقرار کنند وحینیکه به این اعتراف کنند میتوانند جان ومال شان را نجات دهند مشروط بر ینکه مرتکب قتل نه شده باشند وحساب شان نزد الله تبارك وتعالی است. ازین حدیث مبارك برمی آید که این کلمه طوریکه متضمن نجات انسان از مجازات های اخروی است درین جهان نیز مصؤنیت وی را تضمین میکند.

رسول الله صلی الله علیه وسلم می فرماید:

جددوا ایمانکم قیل یا رسول الله وکیف نجدد ایماننا قال اکثروا من قول لااله الاالله (احمد-طبرانی-ترغیب).

یعنی ایمان تان را تجدید کنید عرض شد یا رسول الله چگونه میتوان ایمان را تجدید کرد انحضرت صلی الله علیه وسلم فرمود: کلمه طیبه لااله الاالله را بکثرت قرأت نمائید.

باطراوت وتازگی ایمان سایر عبادات بدنی ومالی نیز سر سبز وشاداب میگردد زیراکلمه طیبه درحقیقت اصل وریشه است و سایر اعمال همچون فرع وشاخها ست و ازین جهت است که آگر اصل وریشه زنده وتازه باشد فروعات وشاخهانیز سر سبز وشاداب نگهداشته میشود. رسول الله صلی الله علیه وسلم می فرماید:

الایمان بضع وسبعون شعبة فافضلها قول لا اله الاالله وادناها اماطة الاذی عن الطریق والحیاء شعبة من الایمان (بخاری)

ترجمه: ایمان هفتاد شعبه دارد که افضل ترین آن کلمه لا اله الا الله وکو چکترین آن محو وبدور افکندن اشیای مضر از راه های آمدو شد انسانان است وحیا یکی از شعب ایمان است.

(باقیدارد)

دافغانستان دجماعة الدعوة الى القرآن والسنة

عالي رتبه هيئت په کابل کې

دا يو واضح اوڅرګند حقيقت دی چه جماعة الدعوة الی القرآن والسنة تنظيم په افغانستان کې يوازينی جماعة دی چه دجهاد دلوړو اهدافو دلاسته راوړلو لپاره ئی موثر ګامونه اخيستی او دکونړونو له آزادئ نه وروسته ئی هلته يوه اسلامی اداره د اسلامی امارت په نوم تأسيس کړی او شرع الله ئی په عمل کې تطبيق کړی ده، دمنطقی خلکو او اوسيدونکو ته ئی داسلام په سيوری کې دامن ناك ژوند شرايط برابر کړل، حدود الله ئی نافذ او تطبيق کړل.

بالآخره په کابل کې دقدرت له انتقال نه وروسته جماعتخپله فريضه وګڼله چه د «**وتعاونوا علی البر والتقوی ولاتعاونوا علی الاثم والعدوان**» دالهی حکم په تعميل او د دينی نصايحو په اساس چې فرمائی: «**الدين نصيحة**» خپل يو لوړ رتبه هيئت کابل ته وليږه، نوموړی هيئت داسلامی دولت له مشرانو او مسئولينو سره ملاقاتونه وکړل او لاندی تجاويز ئی ورته وړاندی کړل:

١- د دينی تربيبی لپاره دی په کابل او ولاياتو کی دينی مدارس تأسيس کړای شی.

٢- قرآن او سنت بايد د قانون اعلی مرجع وی، ځکه چه دايوازينئ لارده چه ټول مسلمانان پری راجمع کيدای شی.

٣- په افغانستان کی بايد په فوری توګه اسلامی حکومت قايم شی.

٤- داسلام په سيوری کی امنيت برقرارشی.

٥- دخلکو ورځنی ژوند له شرعی تعليماتو سره سم عيار او شرعی حجاب په فوری توګه نافذ العمل شی.

٦-د پخوانی ملحد حکومت د بقاياؤ تصفيه دی وشی او له حکومت څخه دی ليری کړی شی.

٧- د اسلامی مسئوليتونو داداء کولو په غرض دی ټولو جهادی تنظيمونو ته امکانات او حقوق ورکړای شی .

٨- د اسلامی دعوت دنشر او اشاعت لپاره دی ټول وسايل په کار واچول شی.

د جماعة الدعوة لوړ رتبه هيئت له صبغت الله مجددی، پروفيسور ربانی، استادسياف، مولويصاحب يونس خالص، اينجينر احمدشاه، احمدشاه مسعود، مولوی جلال الدين حقانی، قومندان عبدالحق او نورو مسئولو شخصيتونو سره په ليدنو کتنو کی په پورتنيو تجاويزو باندی ټينګار وکړ او پدی ترڅ کی ئی دمسلمانانو ترمنځ

وحدت، يووالي او اتفاق دوخت او شرايطو ضرورت وګاڼه او پدې ئې تاکيد وکړ چه د يو اسلامي حکومت دقيام او د امنيت د استحکام لپاره د مجاهدينو اتحاد او اتفاق يوازينۍ لارده .

جماعة الدعوة الى القرآن والسنة د حق داعي يو جماعة دی چه دجهاد په اوږدو کی ئی دجهاد د مقدسی وظيفی ترڅنګ ددعوت وجيبه هم سرته رسولی او دمسلمانانو په عامو صدقاتو ئی دجهاد او دعوت وسايل تهيه کړی او ددغه دوران په ټولو لوړو او ژورو او تودو او سړو کی هيڅکله هم له خپل اسلامي مسير څخه ندي اوښتي.دجماعة الدعوة الى القرآن والسنة ثابت دريځ او دحق دلاری څخه عدم تنازل ددی سبب شو چه دجهاد بانی او دجماعة امير دشهادت لوړ مقام ته ورسيد، مګر جماعة قايم او تر آبده به همدغه نهج او تګلاره جاری ساتی.

دجماعة مشرتابه دجماعة داهدافو په رڼا کی هميشه له هرچاسره په نيکيو کی تعاون کړی او دائی خپله فريضه ګڼلی او د آينده لپاره به هم انشاءالله په بِرّاوتقوىٰ کی له ټولو مسلمانانو سره تعاون جاری وساتی.

دکنړونو اسلامی امارت وياړی چه په منطقه کی ئی دخپل توان او قدرت په اندازه دجهاد اهداف سرته رسولی او عملاً ئی شرع الله نافذه کړی او دخلکو دمال، ځان او عزت ساتندوی دی، دا به ترهغه وخته پوری په همدغه منوال قائم وي تر څو چه په ټول افغانستان کی يو پياوړی مرکزی اسلامی حکومت استقرار ومومی ، امارت او جماعة به له خپلونورو مجاهدينو ورونو سره اوږه په اوږه د اسلامی حکومت دقيام او استحکام او همدارنګه دامنيت دتأمين او د متحد پياوړی افغانستان په لاره کی نه ستړی کيدونکی هلی ځلی جاری وساتی او پدی لاره کی بی کچه هاند خپله شرعی فريضه ګڼی.البته الله تعالی دی نه کړی که دکابل ښار دبيلابيلو تنظيمونو او ډلو ټپلو ترمنځ د اقتدار ګټلو دجګړی په ډګر بدل شی او ځوك وغواړی چه د افغانستان د مجاهد ملت دځوارلس کلن مقدس جهاد په سپيڅلی صفحه دقوم، ژبی، سمت او دتنظيم دګټو اومصالحو دتحفظ تور داغونه ولګوی او په خپل لاس نړيوالو ته داسند په لاس ورکړی چه دغه اوږد خونړی جهاد دالله تعالی درضادحصول او دافغانستان د آزادۍ او اسلامی حيثيت دګټلو لپاره نه بلکه يوازی دکوم قوم ياتنظيم داقتدار د کرسۍ دلاسته راوړلو لپاره سرته رسيدلی نو جماعة الدعوة الى القرآن والسنة به دخپلی سپيڅلی اسلامی مشی په اساس په هيڅ ډول دغو رقابتونو کی برخه وانه خلی او داسلام او افغانستان دلوړو ګټو په خاطر به د مجاهدينو داتحاد او په افغانستان کی د يوپياوړی اسلامی حکومت د ټينګښت لپاره خپل فعاليتونه ګړندی کړی.

موجوده هيئت وکولای شو چه د آينده لپاره په افغانستان کی د اسلامی دعوت د نشر او اشاعت پخاطر د مشرانو او مسؤلينو سره تفاهم وکړی او په کابل کي د دغه مقصد پخاطر يو مرکز پرانستل شی.

ومن الله التوفيق.

په کابل کی د جماعة الدعوة الی القرآن والسنة د لوړ رتبه هیئت له غړی او سیاسی مشاور ورور ابوعبید سره د دعوت د مجلی د خبریال مرکه:

پوښتنه:کولای شی واضح کړی چه ستاسو تګ کابل ته د څه مقصد لپاره وو؟

ځواب:بسم الله الرحمن الرحیمo الله تعالی فرمایی«ولتکن منکم امة یدعون الی الخیر ویأمرون با لمعروف وینهون عن المنکر » الایة.

تاسو ته واضحه ده چه جماعة الدعوة الی القرآن والسنة افغانستان اسلام ته د بلنی هغه جماعة دی چه دعوت یی عام شکل لری او په کومی خاصی سیمی یا قوم پوری منحصر ندی، دا د انبیاؤ علیهم السلام دعوت او پدی امة کی د نیکو اسّلافو تګلاره ده.

په افغانستان کی چه کله د جهاد شهید امام او داسلام لوی مفکر الشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله)ددی جماعة بنسټ کیښود ،نو یوازینی هدف یی دا ؤ چه د افغانستان مسلمان ملت د اسلام د دین له تعلیماتو او علم څخه برخمن شی، د دوی له ژوند څخه د شرکیاتو، بدعاتو او ناروا رسمونو او رواجونو توری تیاری لیری شی او د مسلمانانو د ورځنی ژوند په ټولو ابعادو اسلام حکومت وکړی.

د توحید دغه ناره د کنړونو له سردرو څخه پورته شوه او له مختلفو پراؤ څخه تیریده،څو د کمونیستانو له کودتا نه وروسته یی د وسله وال جهاد شکل غوره کړ؛ مګر د جهاد په څنګ کی د جهاد شهید امام دینی دعوت او روزنه هم خپله فریضه ګڼله او دغه اړخ ته یی پوره توجه وکړه.

د کنړونو له آزادئ نه وروسته د شهید شیخ (رحمه الله)په مسئولیتونو باندی یو بل بار هم ور زیات شو چه هغه په کنړ کی د یو اسلامی حکومت قیام ؤ، داسی یو حکومت چه له نظر نه پرته یی په څو نژدی پیړیو کی عملی بیلګه نه درلوده.

شهید امام په کنړ کی یو اسلامی حکومت تأسیس اوشرع الله یی دعمل په ډګر کی تنفیذ کړه او پدی لیار کی یی دشهادت تر مقام پوری خپل ټول مرامونه تر وروستی پړاو پوری ورسول او د جماعة او ددی لاری په تلونکو باندی همدغه ذمه واری او مسؤلیتونه پاتی دی چه د اداء کولو او سرته رسولو لپاره یی هلی ځلی جاری دی.

په کابل کی چه کله قدرت مجاهدینو ته منتقل شو نو د جماعة په وظایفو کی نور زیاتوالی هم راغی چه هغه په کابل او ټول افغانستان کی داسلامی دعوت نشراواشاعت، په برّ او تقوی کی د حکومت له نیکو افرادو سره همکاری، په ټول ملك کی د

اسلامی حکومت قیام او د اسلام په سیوری کی دامنیت استقرار او استحکام دی چه دغه زمونږ د موجودیت اساسی ټکی دی.

مونږ وکولای شول چه په کابل کی له اکثرو جهادی مشرانو سره وګورو او دوی ته دا په ډاګه کړو چه د څوارلس کلن جهاد یوازینی هدف د الله تعالی د رضا حصول او د کلمة الله سر لوړی ده، حکومت د دغه هدف د لاسته راوړلو په لار کی د وسیلی په توګه استعمالیدای شی،هغه څوک چه د هدف او وسیلی تر منځ توپیر یا نشی کولای او یا وسیله هدف ګڼی، د الله تعالی له سختی پوښتنی سره به مخامخ شی. اوس چه د حکومت واګی د جهادی مشرتابه په لاس کی دی، دا په حقیقت کی دالله تعالی ازمیښت دی دغه وسایل باید داسلام او اسلامی ژوند د ښیرازۍ او جوړښت او د دین د نشر او اشاعت په لاره کی په کار واچول شی. قرآن او سنت باید د قانون اعلی مرجع وی او دا موهم واضحه کړه چه د افغانستان جماعة الدعوة خیر او حق ته د بلنی یو جماعة دی چه په برّ او تقوی کی له ټولو مسلمانانو سره تعاون خپله فریضه ګڼی، خو بدی او عدوان د هر چا خپل کار دی او جماعة ورسره کوم کار نلری.

پوښتنه: آیا تاسو په خپلو کتنو کی د کوم جهت ملاتړ اعلان کړی دی؟

ځواب:مونږ له ټولو مشرانو سره لیدلی او له ټولو څخه مو په کلکه د اسلامی حکومت د استقرار، داتحاد او یووالی د تأمین او دجنګ جګړو د ختمولو غوښتنه کړی ده، د چا مو په ځانګړی توګه ملاتړ او یا مخالفت ندی اعلان کړی، او ټولو ته مو دا ویلی دی چه په نیکیو کی زمونږ تعاون شته او دا یو شرعی اصل دی.

پوښتنه:له حضرت صبغت الله «مجددی»سره ستاسو دکتنی اهم نقاط څه وو؟

ځواب:له حضرت صاحب سره مونږ دهیئت په شکل وکتل او پورتنی مطالب مو ورته ذکر کړل او دامو ورته زیاته کړه چه تاسو په حقیقت کی دازمیښت په معرض کی واقع یاست او دایو دروند باردی تقوی الله باید په ټولو حالاتو کی درسره وی، دشرعی تعالیماتو فوری تنفیذ ستاسو ذمه واری ده، شرعی حجاب باید په فوری توګه تنفیذ العمل شی.د میډیا اصلاح ضروری ده ، دپخوانی ملحد حکومت بقایا باید دحکومت له عهدوڅخه لیری کړای شی، د اسلامی حکومت قیام او داسلام په سیوری کی دامنیت استقرار او استحکام، امربالمعروف او نهی عن المنکر جماعة خپل فرض ګڼی او خپل ټول وسایل به پدی لارکی په کار واچوی.

مونږ زیاته کړه چه پدی حساس وخت کی چه داسلام دښمنان داهڅه کوی چه دمجاهدینو حکومت ناکام او بدنام کړی، اسلامی یووالی او د مجاهدینو ترمنځ تفاهم ته اشد ضرورت دی، هغه ورونه چه لدی حکومتی چوکاټ څخه بهردی ، دهغوی هڅو ته باید دقدر په سترګه وکتل شی او راضی کړای شی.

پوښتنه:ستاسو په نظر په کابل کی ستاسو دموجودیت په وخت کی دکابل حالات څنګه وو؟

ځواب:تاسوته ښکاره ده چه

افغانستان دځوارلس کالو راهیسی دجنگ په حال کی دی، دجهاد په اوږ-
-دو کی نوی نسل په وجود راغلی چه ټول عمرئی په جنگ کی تیرکړی دی، دوی له نظم او دسپلین سره څومره چه لازم دی آشنا ندی پدی اساس هلته څه گډوډی او بدامنی وجود لری له بلی خوادخاد کارکنان او دپخوانی حکومت بقایا هم دا کوشش کوی چه امنیت مختل کړی او یو شمیرهغه مجاهدین هم چه له کابل څخه بهردی، کله ناکله عملیات اجراء کوی چه داهم دامنیت دخرابولو باعث گرځی، همدارنگه نورو تخریبکارانوته ددی زمینه برابر یږی چه خپل شوم اعمال ترسره کړی چه پدی اساس بی عزتی، لوټ مار او نوره بدامنی منځته راځی، خو کیدای شی چه دصالحو مجاهدینو په بی دریغه قربانیو داوضعه دسمون لورته روانه شی.

پوښتنه: آیا د جماعة مسئولین د کابل د مشکلاتو په حل کولو کی کوم رول لوبولی شی؟

ځواب: دکابل دورونو دمشکلاتو په حل کی جماعة حتی الوسع کوشش کوی اوټولو ته د تقوا او نیکی کولو او یو بل ته د ورورۍ د لاس ورکولو توصیه کوی. دجماعة مسئولینو په کابل کی د فریقوډلو له مشرانو سره هم کتنی کړی او داغوښتنه ئی تری کړی چه یوبل ته تنازل وکړی، څو دا دردیدلی مسلمانان نور له کړاؤنو او مصائبو څخه خلاص او د وروړگلوی په فضاءکی یوه اسلامی ټولنه جوړه کړی، هلته چه کومه جرگه د صلحی دجرگی په نوم جوړه شوی جماعة هم پکی غړیتوب لری.

پوښتنه: آیا په کابل کی اوس د دعوت خپرولو ته زمینه برابره ده او تاسو ددعوت د مراکزو په رابطه کوم کار وکړای شو؟

ځواب: دا واقعیت دی چه ټول ملك بالخصوص کابل اسلامی دعوت ته اشدضرورت لری، کومو خلکو چه دکمونیستی رژیم په سیوری کی ژوند کړی، هغوی داسلام له اساساتو او تعلیماتو سره بالکل نا آشنادی داسلام د بلندویانو،علماء کرامو اوطالب علمانو ذمه واری ده چه په پوره حکمت سره ددغو خلکو داسلامی ژوند په جوړست کی خپل فرایض اداء او په داوطلبانه ډول هغه بنیادی مسایل رامنځته کړی چه نننی مسلمانان ورته ضرورت لری.

مونږ وکولای شول چه دینی حلقی جوړی او د دعوت دخپرولو مقدماتی چاری منسجمی کړو

د حالاتو په آرامی سره به انشاء-
-الله عملی اقدامات وشی.

پوښتنه: دااتحاد اسلامی او حزب وحدت ترمنځ په جگړه کی دجماعة موقف څه وو؟

ځواب: دغه مشکل د اول ځل لپاره ددغو دوه تنظیمونو ترمنځ پیداشوی ؤ چه بالآخره ئی وسله وال شکل غوره کړ او ددواړو ډلو دتلفاتو سبب شو چه بیا وروسته د حزب وحدت داعمالو په وجه عام شو، البته دجماعة یو شمیر مجاهدین دحزب وحدت او حرکت محسنی له خوا ونیول شول چه زمونږ له مجاهدینو سره ئی ډیر بد سلوك کړی ؤ.

دا هم باید واضح شی چه حزب وحدت په ناروا ډول دکابل په ځینو ځایونو قبضه کړی ده

او د زور له لاری غواړی چه خپله سلطه او یابرتری په نورو مجاهدینو ومنی او یا خپلی غوښتنی پدی ډول ترلاسه کړی.ددوی لپاره مناسبه داوه چه دتفاهم او صلح له لیاری خپل مسایل له حکومت او مجاهدینو سره حل و فصل کړی.

پدی ډول تنظیمی برخوردونو کی د جماعة پالیسی دا ده چه ټول مجاهدین باید خپلی ستونزی دقرآن او سنتو په رڼا کی حل او فصل کړی.

پوښتنه:لکه څنګه چه معلومیږی په کابل کی دمجاهدینو حکومت په هیڅ ولایت باندی برلاسی نلری او په هرولایت کی دمجاهدینو ځانګری حکومتونه خپل خپل کارونه کوی، آیادغه کاردهیواد یو موټی توب ته زیان نه رسوی؟

ځواب:داواقعیت دی چه تر اوسه پوری حتی په کابل کی لا دولت پوره سلطه نلری او ولایتو نه یاخوله اداری څخه محروم دی اویا دمحلی شوری گانو پواسطه اداره کیږی، که دغه شکل ادامه ومومی، یقیناً دافغانستان یو موټی توب ته لوی زیان رسوی جماعة الدعوة پدی هڅه کی دی چه په کابل کی یو پیاوړی اسلامی حکومت منځته راشی او ولایتونه په مرکزی اداره کی شامل کړای شی.

پوښتنه:ځینی ډلی په هیواد کی دتجزئی غوښتونکی دی او غواړی چه مرکزی حکومت باید دولایاتو په چارو کی مداخله ونکړی، دجماعة الدعوة الی القرآن والسنة موقف څه دی؟

ځواب:جماعة الدعوة الی القرآن والسنة دیو پیاوړی، متحد او اسلامی افغانستان لپاره کوشش کوی او خپل ټول هغه وسایل او امکانات په کار اچوی چه دغه هدف پری سرته رسیدای شی اوهیڅکله به چاته دد ی اجازه ورنکړی چه یوه لویشت خاوره هم له افغانستان څخه تجزیه او بیله شی، هغو خلکو چه دهیواد په شمال او نورو سیمو کی دتجزئی آواز پورته کړی، په حقیقت کی دافغانستان دمسلمان ملت دپیاوړی توب دښمنان دی او انشاء الله چه هیڅکله به هم خپل دی شوم هدف ته ونه رسیږی.

پوښتنه:په افغانستان کی د گوندونو تعدد څنګه ارزیابی کوی او آیا په راتلونکی کی به زیات شمیر سیاسی احزاب په افغانستان کی فعالیت وکړی که کوم بندیز به پری ولګول شی؟آیادغه موضوعات موله جهادی مشرانو سره په خپلو لیدنو کتنو کی مطرح کړل؟

ځواب:اصلاً په اسلام کی گوندونه وجوذ نلری، دا د الحادی نظامونو تأثرات دي چه اسلامی امة ئی ټوټه ټوټه کړی اوپه گوندونو ئی تقسیم کړی دی، مسلمانان باید په یوه امیر باندی راټول شی، دا چه پدی شرایطوکی داسلام ددغه اصل تطبیق مشکل ښکاری، پدی اساس باید خامخا گوندونه موجودوی، نو اسلامی حکومت باید یوازی او یوازی اسلامی تنظیمونو ته دفعالیت اجازه ورکړی اوبس، مونږ په کابل کی دغه موضوع دموجوده دولت مسئولینو ته رسولی ده.

پوښتنه:راتلونکی حکومتونه به ترکومه حده دمطبوعاتو آزادی تحمل کړای شی، که په اسلامی مطبوعاتو باندی بندیزولګول شی، د جهادی تنظیمونو عکس العمل به څه وی؟

ځواب: د اسلامي حکومت مطبوعات باید یوازې داسلامي دعوت د نشر او اشاعت وسیله وګرځي او د خلکو په دیني تربیه او ذهني بیداري باید پوره او مؤثر رول ولري، دګوندي او نورو تعصباتو پربناء حقایق پټ نکړي او یوازې اسلامي مطبوعاتو ته باید اجازه ورکړای شي او بس.

پوښتنه: د لوئي جرګي درابللو په کار د جهادي مشرانو ترمنځ سخت اختلافات موجود دي، ستاسو رأیه څه ده؟

ځواب: د افغانستان مسئله باید داسلامي قوانینو په رڼا کې حل او فصل شي اسلام پوره او مکمل دین دی او دژوند دټولو متعلقه امورو لپاره لازم اوکامل هدایات اولارښودنې لري، په اسلام کې د حکومت نظام موجود دی، له هغه سره سم باید دافغانستان دمسلمان امة سرنوشت وټاکل شي.

پوښتنه: مسعود او حکمتیار په شپږو میاشتو کې د انتخاباتو غوښتونکي دي، آیا دغه کار په دغه موده کې امکان لري؟

ځواب: لومړی خو زمونږ له نظره انتخابات د افغانستان دمظلوم او مسلمان ملت ددردونو لپاره دوانه شي کیدای او په دین کې هم کوم بنیاد نلري، دوی باید ټول مشکلات یوازې د اسلام داصولو له لیارې حل اوفصل کړي. دمشکلاتو په حل کې که داسې ذرایعوته لاس واچول شي چه شرعي صبغه ونلري، نو مشکلات به نورهم زیات کړي، سربیره پردې له او سنیو حالاتو څخه داسې ښکاري چه دا شرایط د انتخاباتو لپاره مناسب او مساعد ندي.

پوښتنه: ځنې خلك داسې وائي چه د امام الجهاد شهید جمیل الرحمن (رحمه الله) له شهادت نه وروسته د جماعة کارونه په ټپه ولاړ دي او هیڅ ډول تحرك په کې نشته، ستاسو نظر پدې هکله څه دی؟

ځواب: دجهاد دشهید امام له شهادت نه وروسته دجماعة کارونه دپخوا په شان پرمخ روان دي، البته وروستیو بدلونونو چه په نورو جهادي تنظیمونو باندې کوم اثرات ښندلي، جماعة هم ترې مستثنی ندی، خو ددې معنی دا نه ده چه دجماعة کارونه له رکود سره مخامخ شوي دي، کومې اداري او جهادي اودعوتي مرکزونه چه دجماعة ترقیادت لاندې کار کوي، هغوی له پخوا زیات منظم اومنسجم دي،. دیادونې وړدې چه جماعة الدعوة الی القرآن والسنة افغانستان کوم ګوند ندی چه دسیاسي هدفونو پخاطر رامنځته شوی وي، بلکه دالله تعالی له ارشاد سره سم چه فرمائي «ولتکن منکم امة یدعون الی الخیر ویأمرون بالمعروف وینهون عن المنکر..الایة » اوله نبوي ارشاد سره سم چه فرمائي «لاتزال طائفة من امتی علی الحق منصورة لایضرهم من خذلهم حتی یأتی امرالله»

دا جماعة خیر ته ددعوت یو ټولګې دی چه دانبیاء کرامو او نیکو اسلافو لارئې خپله کړې او هماغه دعوت ئې په هماغه طریقه روان کړی او د قیامت تروځې پورې به جریان لري، که یوه طبقه ستړې کیږي یا له منځه ځي، الله تعالی د هغې پر ځای بله طبقه پیدا کوي، مګر دغه مثال به د تل لپاره روښانه وي.

د جهاد شهید امام پداسې حالاتوکې د توحیدي دعوت بنیاد

کیښود چه هره خوا تورتمونو احاطه کړی وه او هیچا ددی توقع نه درلوده چه دا دعوت به د ټولو محاربو، دښمنیو او مشکلاتو سره سره پدی مستوا په افغانستان کی خپور شی.ډول ډول تکالیف او مشکلات په دغه فقیر داعی باندی راغلل،تل به له تهدیدونو سره مخامخ ؤ، په ډاگه ورته ویل شوی وو چه د انبیاؤ او سلفو لار پریږدی او تنازل وکړی، مگر شهید د حق له لیاری څخه یو ذری انحراف ته حاضر نه شو او شهادت ته یی په دی لار کی ترجیح ورکړه او خپل مسئولیتونه یی د الله تعالی په وړاندی په ډیر متانت او ځوانمردی سرته ورسول او پدی ملت او ددی دعوت د لاری په ملگرو یی حجت قایم کړ. له نیکه مرغه شهید امام نه یوازی دا چه یو تکړه مجاهد او بلندوی ؤ، بلکه یو پیاوړی مربی هم ؤ. هغه په زرهاؤ ځوانان داسی وروزل چه د مظلوم شهید بل کړی مشالونه به د ملك په گوټ گوټ کی په خپلو سرښندنو سره بل ساتی او دغه نهج به د ژوند تر وروستیو سلگو پوری تعقیبوی.

پوښتنه: مجددی صاحب چه یوازی مجاهدینوته د انتقالی قدرت لپاره کابل ته استول شوی ؤ، د خپل حکومت دټینگښت لپاره له حزب وحدت سره داسی شرایط ومنل چه صلا حیت یی ورسره نه ؤ دغه کار ستاسو په نظر څنگه دی؟

ځواب: زمونږ له نظره د پیښور معاهده هم مکمله نده، ځکه چه ځینی جهادی تنظیمونه په کی له نظره غورزول شوی وو، غوره دا وه چه زمونږ جهادی مشرانو ټول جهادی تنظیمونه پدی معاهده کی له ځان سره ملگری کړی وائی.

په هرصورت دا چه د اوه تنظیمونو تر منځ څرنگه معاهده شوی، دا د ټولو جهادی مشرانو شرعی ذمه واری ده چه په خپلو تعهداتو باندی وفا وکړی او دی ته موقع ورنکړی چه دا کړیدلی مسلمان ملت په یو بل مصیبت اخته شی، د افغانستان په جهاد کی د هر چا وزن او کردار معلوم دی، هر چاته باید د خپل وزن سره مناسب حقوق ورکړ شی.

پوښتنه: ویل کیږی چه خارجی لاسونه نه پریږدی چه افغانستان ته امن راشی، ستاسو نظر پدی هکله څه دی؟

ځواب: د جهاد په دوران کی له مونږ سره ځینو مسلمانو ملکونو د اسلامی اخوت پر بنیاد مرستی کړی چه پر خپل ځای د قدر وړ دی، مگر دا باید ددی معنی ونلری چه دوی زمونږ په کورنیو چارو کی لاس ووهی او یا زمونږ داخلی نظام گډوډ کړی.

پدی وروستیو وختو کی د ایران لاس وهنه بالکل ښکاره او په ډاگه شوی ده، وروستی حوادث چه د اتحاد اسلامی او حزب وحدت ترمنځ پیښ شول، له دغه ځایهٔ نښتئ کړی دی، دوی باید زمونږ پدی گډوډ او پاشان حالت باندی رحم وکړی اود افغانستان ملت پریږدی چه خپل سرنوشت په خپله وټاکی.

(وماالنصرالامن عندالله)

داسلامي حکومت دتأسيس لاره

اسلامي اصول که غربي ديموکراسي؟

د شهيد شيخ جميل الرحمن(رحمه الله) له خطباتو څخه

د افغانستان د کنړونو د اسلامی امارت او د جماعة الدعوة الی القرآن والسنةدامير شهيد شيخ جميل الرحمن (رحمه الله) هغه عالمانه وينا چه په ١٤١١/٥/٧هـ.ق نيټه مطابق د(١٩٩٠/١١/٢٣)ميلادی يی دجمعی مبارکی په ورځ داسعدآباد په جامع مسجدکی ايرادکړه:

نحمده ونصلی علی رسوله الکريم امابعد فاعوذبالله من الشيطن الرجيم

بسم الله الرحمن الرحيم

ياايها الناس اتقوا ربکم الذی خلقکم من نفس واحدة وخلق منها زوجها وبث منهما رجالاً کثيراً ونساءًواتقوا الله الذی تساءآلون به والارحام ان الله کان عليکم رقيبا○ او کماقال الله تعالی:ياايها الذين امنوا انقوالله حق تقاته ولاتموتن الا وانتم مسلمون○ ياايهاالذين امنوااتقوالله و قولوا قولاً سديدا. يصلح لکم اعمالکم ويغفرلکم ذنوبکم فمن يطيع الله ورسوله فقد فاز فوزاً عظيما○ وقال الله تعالی: ان هذه امتکم امة واحدة وانا ربکم فاعبدون○(سورة انبياء)

محترمو مجاهدينو ورونو!

کوم ايت پاك چه ما ستاسو په وړاندی تلاوت کړ،ددی ايت پاك نه مخکی په همدغه سورة کی رب العزت هغه وظايف او مکلفيتونه په نښه کړی چه دهغو دسر ته رسولو له پاره ټول انبياء عليهم السلام دنياته استول شوی وو، نو په دی ايت پاك کی الله تعالی فرمايی:دغه انبياء عليهم السلام چه په کوم دين او طريقه راليږل شوی دی، همدغه ستا سو دين او طريقه ده اودا يوه طريقه ده دټولو انبياؤعليهم السلام يعنی دحضرت آدم عليه السلام نه ترحضرت محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم پوری د ټولو انبياؤ يو دين او يوه طريقه ده.«اوزه ستاسو رب يم زما بندگی وکړئ»ټول انبياء پدی طريقه ليږل شوی چه رب يوازی يو الله دی، نو د بندگی مستحق هم يوازی يو الله تعالی دی. يو پيغمبرالله تعالی پدی ندی راليږلی چه دالله نه سيوا دی دبل چا پرستش او بندگی وشی،څنگه چه د ټولومخلوقاتو له خلق او پيدايښت نه

وروسته هغوی د خپلی وظیفی په اداء کولو کی الله تعالی ته منقاد او طابع او دالله تعالي په بندگئ مصروف وو. په ټولو مخلوقاتو کی پیریان او انسانان هغه مخلوق دی چه دوی ته الله تعالی قدرت او طاقت ورکړی دی او اختیار او اراده یی ورکړی ده او مکلفیت یی ورته په غاړه اچولی دی.

«و ماخلقت الجن والانس الاليعبدون۝» پیدایښت ددی د پاره دی چه د الله تعالی پرستش او بندگی وکړی.یعني ټول پیریان او انسانان الله تعالي د دي لپاره پیداکړي دي چه دالله تعالي بندگي وکړي.انبیاء علیهم السلام الله تعالی ددی لپاره رالیږلی دی،چه دالله تعالي پرستش او بندگي وکړي، البته دبندگئ او پرستش په طریقو کی به فرق ؤ، مگر دټولو غایه اوهدف یوازی دالله تعالي بندگی او پرستش ؤ.دآدم علیه السلام نه ترمحمدصلی الله علیه وسلم پوری داټول یوامت دی. ددوئ دټولو منهج او هدف یوازی دالله تعالی بندگی او پرستش دی. کله چه پیغمبر ژوندی وی دامت امامت هغه ته حواله وی، چه پیغمبر ځی،د امت امامت د هغه خلیفه ته حواله وی، څرنگه چه ټول امت دپیغمبر په انقیاد او اطاعت مکلف دی،همدارنگه دا ټول امت د پیغمبر دخلیفه په اطاعت مکلف دي چه دهغه اطاعت او طابعداری به کوی. هیڅ پیغمبردی ته نه دی قایل چه مسلمانان دی په جدا ډلو او حکومتونو باندی وویشل شي. پیغمبرصلی الله علیه وسلم وائی:چه دمسلمانانو دامام د ودرولو طریقه انتخابات ندی، بلکه شرعی بیعت دی.هغه خلك چه مسلمانان په هغه باندی ددیانت دارئ، امانتدارئ، دپوهی او علم او تقوی او پرهیز گارئ اعتماد کوی.

دمحمد صلي الله عليه وسلم دامت له طبقي څخه پدي امت کي غوره طبقه نشته.

حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه فرمایی:دپیغمبر صلی الله علیه وسلم حدیث دی، چه الله تعالی دی ټول عالم ته وکتل، دصحابه کرامو رضی الله عنهم نه یی چه دهغوی په زړونو کی خیرموجود ؤ، بله غوره طبقه پیدانه کړه، نو الله تعالی دا دپیغمبر صلی الله علیه وسلم دصحبت او ملگر توب لپاره انتخاب کړل. دوئ هم عالمان وو، هم مجتهدین وو، هم مجاهدین وو، هم قومندانان وو او هم دپیغمبرصلی الله علیه وسلم مشاورین او وزیران وو. هغوی حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه مخکی کړ، اوله خبره دامنځته راغله چه انصارو وویل: چه زمونږ نه به جدا امیر وی اوستاسو نه به جدا امیروی، خو وروسته هغوئ په دی خبره پوه شول چه په اسلام کی دوه امارتونه نه وی نو ځکه ئی له حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه سره چه دمهاجرینو له جملی څخه ؤ بیعت وکړ. پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایی:چه په مسلمانانو کی چه چا سره یو وار بیعت وشو او دهغه نه وروسته چه بیابل څوك راځي او بیعت غواړی ورسره وجنگیږی تر څو امت مسلمه په دوو فریقو تقسیم نه شی. داسلام په نظر حکومت،چوکئ او اقتدار هدف نه دی، بلکه وسیله ده. ددی وجی نه چه دمسلمانانو امیر ددین اقامه ونه کړی نو امر باالمعروف خلك نه کوی، نهی عن المنکر نه کوی، جهاد معطلیږی، زکوة له خلکو څخه نه اخستل کیږی، خیر ته دعوت نه کوی ، دمنکراتو رد نه کیږی. نو حکومت جوړول په اسلام کی دامر باالمعروف او نهی عن المنکر وسیله ده

. ترڅو جهاد ژوندی وساتل شی او له جامعی نه مظالم وویستل شی اوهر مسلمان له خپلو شرعی حقوقو څخه برخورداره شی.

حضرت علی رضی الله عنه فرمایی:دمسلمانانو لپاره پرته له حکومت او امارت نه نابودی ده . ددی لپاره چه حدود قایم شی امن راشی او جهاد فی سبیل الله ژوندی شی.که یو ملاصاحب وی،او د مسلمانانو امیر شی،خو چه امر بالمعروف او نهی عن المنکر نه کوی، حدود نافذولی نشی له داسی امیر نه هغه فاسق فاجر چه کله دمسلمانانو په سر دتوری په زور حاکم شی، مگر امر بالمعروف او نهی عن المنکر په ښه ډول سرته ورسوی اطاعت ئی لازم دی، اسلام دده داطاعت امر کوی.په حدیث شریف کی راځی چه ترڅو په ده کی تاسی صریح کفرنه وی لیدلی، تاسی پری توره نشی وچتولی. پیغمبرصلی الله علیه وسلم دحکامو متعلق وایی چه وروسته حکام به داسی راځی چه په هغو کی به څه کمی موجود وی، صحابه کرام ورته وایی: یارسول الله! نو توره به تری نه وباسو! پیغمبرصلی الله علیه وسلم ورته وایی:چه نه! ترڅو چه هغه اقامت دصلوة کوی، یعنی داسی نه وایی چه لمونځ مه کوی، خلك لمونځونو ته دعوت کوی، جماعتونه آبادوی او ټول هغه فرایض چه دامارت دی، هغه ترسره کوی، ترهغی پوری به پری توره نه وباسئ او که کله مو پکی صریح کفر ولیده، بیابه پسی توره وباسئ . لدی نه دامعلومیری چه په اسلام کی امارت او اقتدار هدف نه دی،چه خپل ټول قوتونه او ډلی په کار اچوئ، خلك ډلوته دعوت کوئ، ترڅو دډلو دکثرت په وجه چه ټول ملت تابع کړئ او اقتدار حاصل کړئ. غیر له اسلام نه بل شی ته دعوت ورکول جاهلیت دی، هغه که قومیت ته دعوت وی، هغه که تنظیم اوډلی ته دعوت وی، هغه که یو خاص مذهب او مسلك ته وی ځکه تگ راتگ او وروری دوستی یی دهغه لپاره وی او همدارنگه هره لیکنه لوستنه ئي دهغه لپاره وی ،داټول جاهلیت دی، یعنی دا دهغه شی دبندگئ صفات دی. نود «لا اله الاالله» معنی دا ده چه بندگی پرته له الله تعالي نه دبل چا حق ندی، دچا سره دالله لپاره محبت دالله بندگی ده ،دچاسره بغض کول دالله لپاره بندگی ده ،دالله په لارکی دچا سره مقاطعه کول دالله بندگی ده او دالله په لار کی دچا نصرت او تائید کول دالله بندگی ده.ددی وجی نه پیغمبرصلی الله علیه وسلم فرمایی: په ایمان کی یو له بل سره ایثار او محبت دی، یو له بل سره نصرت او تائیددی. هغه مسلمان نه دی چه په یو مسلمان باندی دظالم له لاسه ظلم کیږی او هغه دظالم لاس ونه نیسی.

مونږ په ډلو تقسیم شوی یو، دوستی مو په ډله کی ده ،محبت مو په ډله کی رابند شوی دی او همدارنگه نصرت او تائید مو په هغه ډله کی رابند دی بل که هر څومره ښه مسلمان وی او هرڅومره چه هغه مجبوریت راخستی وی او هر څومره چه هغه نصرت او مرستی ته اړ وی، په ځای ددی چه دهغه سره مرسته وشی، تنظیمونو او ډلو هغه ته حدود ټاکلی دی.دا جاهلیت دی دااسلام په رسمیت نه پیژنی. مونږ ټول علماء چه په دی ډلو تقسیم شوی یو، مونږ ټول پدی پوهیږو چه دا جاهلیت دی او دجاهلیت لپاره دعوت ورکوو.

هیڅ یو عالم دا نه شی ویلي چه اسلام دا جایز بولی.پیغمبر صلی الله

عليه وسلم په ډيرو سختو الفاظو کی وايي:«ليس منامن دعاالی عشريت او کما قال » عشريت دی ته وايي چه له الله تعالی نه سيوا دبل تعلق په خاطر باندی دعوت شروع کړی.مثلاً دحزب اسلامی مجاهدين وايی ما دحزب اسلامی لپاره قربانی ورکړی ده، مگر دا قرباني دالله لپاره نه شوه همدارنگه که دټولو سياسی ډلو پوری تړلی مجاهدين دا وايی دغه قربانی د الله لپاره نه ده. دمسلمانۍ په لحاظ مونږ وينه داسلام لپاره ورکړی، نه د کومی ډلی لپاره.

که داسلام داصولو مطابق دلته اسلامی نظام حاکم شی، د مجاهد د شهادت ارمان پوره شو او دجهاد غايه او هدف پوره شو اوکه دلته اسلامی نظام حاکم نشی نو که دجمعيت اسلامی مجاهد وينه توی کړی بی هدفه ده، که هغه دحزب اسلامي وي هم بي هدفه ده او همدارنگه دټولو ډلو دخلکو وينه بی هدفه ده ،ځکه اسلام د حزب اسلامی يا جمعيت اسلامی او يا دبلی سياسی ډلی څخه تعبير نه دی، اسلام په خپل ترکيب کی خپل وصول لری.زمونږ دابتدايی اخوت بنسټ هغه وخت ايښودل شوی کله چه مود «لااله الاالله محمدرسول الله »کلمه ويلی ده.بيا په کی دا نه جوړيږی چه زه پښتون يم، زه تاجك يم اوزه هزاره يم البته د نسب په لحاظ به وی او يوازی دتعارف او پيژندگلوی لپاره به لازم وی چه انسان خپل قوميت يادکړی، خو دعوت دغی قومولۍ ته نشته. ددی جاهلی دعوت وجه ده چه جهاد روان دی او مونږديو اسلامی نظام د حاکميت نه محروم يو،دجاهليت مقابله کوو چه هغه الحاددی، خو د بل جاهليت په چوکاټ کی يی کوو چه هغه زمونږ په ډلو تقسيم کيدل دی. ددی ډلو دتقسيم پخاطر باندی هغه غايه او هدف چه اسلام دهغه لپاره جهاد فرض کړی دی « **وقاتلوهم حتی لاتکون فتنة ويکن الدين کله لله** » يعنی قتال ددی لپاره دی چه فتنه پاتی نشی يعنی ډلی پاتی نشی او ټول امت يو امت وگرځی. غير الله ته دعوت پاتی نشی چه غير الله ته دعوت شرك دی، که وگورو په سيمه کی قتلونه کيږی.له معلومات نه وروسته معلومه شی، هغه قومندان صاحب کړی وی، همداشان نوری ډيري ناروا‌وی چه دجهاد له صف نه کيږی، او داځکه چه دلته جاهليت موجود دی او هر سړی مسلح دی او دا وجه ده چه په ډلو تقسيم يو، دلته دفاسق فاجر تميزنه کيږی، دخير او شر تميز نه کيږی،دامين او خاين تميز نه کيږی،د رينښتين او دروغجن تميز نه کيږی او فقط ددی لپاره کوشش دی چه څوك پيداشی چه سلاح ورکړم، اکثريت پيدا کړم او اقتدار حاصل کړم.

داټول مصيبتونه او جرايم چه واقع کيږی ددی ټولو سبب دمتعددو ډلو موجوديت دی، که ډلی نه وی دا ټول خلك به منسجم وی او په يو نظام به څرخيدل، دلته به هر قاتل،هر فاحش، هرظالم او هر مجرم نيول کيدلای، دلته به يو مجرم ته دجرم کولو جرئت نه پاتی کيدای.

دا اسلام چه الله تعالی پر مونږ پيرزو کړی دی، دا هغه دين دی چه انسان ته علم، پوهه، بصيرت،سعادت او ذکاوت وربخښنی او دا ورته ښايی چه نيك بختی څه شی دی او بدبختی څه شی دی؟

اوس چه مونږ د پيغمبر صلی الله عليه وسلم، دهغه دملگرو او دهغه د خلفاؤ پيروی او اتباع پريږدو او دبل چا په پيرویۍ او اتباع کی خپل سعادت او نيکمرغی لټوو، نو هيڅکله به

سعادت او نیکبختی په سترگو ونه وینو، که له ابتدا نه مو خپل اساس غیر اسلامی کیښود نو دا امکان بیا نشته چه هغه اصلی هدف دی تر لاسه کړو.

د ژوند داسی چاره نشته چه اسلام په هغه کی خپل هدایت نلری، داسی څه نشته چه په هغه کی دمسلم امت پیشرو او مقتداء طبقو چه هغه دامت علماؤ، تابعینو او طبع تابعین دی توضیحات ندی ورکړی او هغه بی عملی او یا قولی ندی ښودلی، ټولو علماؤ پدی باندی بحث کړیدی که خبره داکثریت اواقلیت شی نو دټولو انبیاؤ علیهم السلام رالیږل دنیا ته عبث وو، څکه پیغمبر به یو ؤ او نور ټول قوم ،ملك او منطقه به بی‌لاری وه . پیغمبر به خپله مدعا وړاندی کوله، خو دایی هیڅکله نه وو ویلی چه په دی به رأی گیری کوو، څکه دحق په څنگ کی همیشه لږشمیر خلك ولاړوو او ډیرو خلکو په اساس حق ندی ودریدلی، ددی وجی نه قرآن پاك فرمایی:«وان تطیع اکثر من فی الارض یضلوك عن سبیل الله یعنی که تاسی د ځمکی پرمخ دهغه چا تابعداری وکړئ چه هغه ډیروی نو تاسی به د الله تعالی له لاری واړوی او بی لاری به موکړی، قرآن کریم چه کله دچاسره دخصومت په موقف ودریږی نو ورته وایی چه«قل هاتو برهانکم» او خصم ته وایی چه دخپلی مدعا دلیل راوړه! لیکن تر اوسه پوری اکثریت دلیل نه دی شمیرل شوي. په جمهوری یا دیموکرات هیوادونو کی چه اکثریت دلیل دی هلته همیشه اکثریت فحش غواړی او هلته فحش رایج وی.هلته اکثریت خلك دقرآن له حاکمیت څخه تیښتی. اسلام دغربی جمهوریت او دیموکراسئ له حکومت او اصولو سره په مخالفت کی ولاړدی،داهغه دین دی چه الله تعالی رالیږلی دی او جمهوریت او دیموکراسی هغه طریقی دی چه هغه دغرب دانشورانو او فیلسوفانو منځ ته راوړی دي. اوس که مونږ خپل انبیاء پریږدو او هغه طریقه او لارتعقیب کړو چه هغه د مشکلاتو دحل لارنده، نو څرنگه به وکولای شو چه په افغانستان کی یو اسلامی نظام حاکم کړو. دیمو کراسی او جمهوریت خو دهغو خلکو کړنلاری دی چه عیاشی او فحاشی دانسانی ژوند یوه ضروری برخه گڼی ،دیڅو بی بندو باریٔ ته دیموکراسی او انسانی حقوق وائی.خو مونږ او تاسو دغه کارونه نه شومنلي، څکه زمونږ او ستاسی مزاج اسلامی دی او هغوی دغیر اسلامی مزاج لرونکی دی، زمونږ مزاج انسانی دی او دهغوی په مزاج کی انسانی آبرو نشته.

نو زما مجاهدینو ورونو!

اسلام د انساني پرگنو د نیکمرغیٔ ضمانت کوی دهیواد دراتلونکی نظم دجوړ ولو لپاره ډیره ښه لار د اسلام دعالی اصولو تطبیق دی چه دجهاد ټول قوتونه باید داسلامی اصولو په رڼاکی دخپل هیواد راتلونکی وټاکی او دحکومت دټاکلو لپاره دغربی دیموکراسیٔ اصول اختیار نه کړی، بلکه یوازي اسلامی اصولو او هدایاتو ته مراجعه وکړی. زمونږ دعا داده چه الله تعالی دی زمونږ دملیونونو مجاهدینو دسرونو او مالونو قربانی په خپل دربارکی منظورکړی او په افغانستان کی دی ټول کفری او الحادی طاقتونه رانسکور کړی او د مجاهدینو په لاس دی اسلامی حکومت قایم کړی.

وماذلك على الله بعزيز.

والسلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

د امام بخاري رحمه الله تعالى ژوند ته یوه کتنه

امام محمد بن اسماعیل بخاري په ۱۹٤هـ کال کې زیږیدلی دی.

لا کوچنی ؤ چه دشفیق او مهربان پلار سیوری ئی له سره ورك شو او د تعلیم او تربیې لپاره ورته یوازی مور پاتې شوه. پلار یې یو جلیل القدر عالم او دحماد بن زید په شاگردانو کې شمیرل کیده. مور یې دخپل ذهین زوی په تعلیم او سالمه تربیه کې شپه ورځ یوه کړه. امام بخاري لا په سمه توگه سترگې نه وې غړولې چه بینائی ئی له لاسه ورکړه. مور ته ئی ددغې غم لړلی پیښې څخه سخته صدمه ورسیده، په الهي دربار کې په دعاگانو سر شوه، د عجز او نیاز لمن یې وغوړوله او د خپل هوښیار بچې د بینائې لپاره یې دالله تعالی دربار ته خپله غوښتنه وړاندی کړه، د یوی وارخطا او مضطربې، بې وسیلې او بې اسرې مور دعا وه چه د الله تعالی په دربار کې یې دمنلو شرف تر لاسه کړ په خوب کې یې ابراهیم خلیل الله ولید چه ورته یې فرمایل: لاړه شه ای نیکې ښځې ستا دعا قبوله شوه ستا دزړه ټوټه او دسترگو نور ته بیا نور ور په برخه شو چه سهار له خوبه را پورته شوه وئی کتل چه دخوږ بچې سترگې ئی بینا دی.

امام بخاري له کوچنې توب څخه له علم حدیث سره زیاته مینه درلوده، داسې معلومیده چه الله تعالی دامام تخلیق یوازی دعلم حدیث دخدمت لپاره سرته رسولی دی، امام بخاري دښوونځي په ابتدائی دوره کې په زده کړه بوخت ؤ او عمر یې هم لس کاله ؤ چه دحدیثو دزده کړې بې کچه مینه ورسره پیداشوه، چیرته چه به یې کوم حدیث واورید بې له درنگه به یې حفظ کړی ؤ. په لس کلنی کې امام بخاري مدرسه پرې ښوده او د وخت د لوی محدث داخلي په درس کې شامل شو.

یوه ورځ امام بخاري د داخلي په درس کې مصروف ؤ. داخلي خلکو ته یو سند اعلان کړ چه ترتیب یې په دی ډول ؤ: سفیان عن ابی الزبیرعن ابراهیم. امام بخاري ورباندی اعتراض وکړ او عرض یې وکړ چه ابوالزبیر له ابراهیم څخه روایت نه دی کړی. په لومړی سر کې خو داخلي امام بخاري ته دمدرسی د یوکوچنی هلك په سترگه وکتل او وېې ټوکه خو بیا لاړ او خپل اصل کتاب یې وکوت ورته معلومه شوه چه دامام بخاري خبره رښتیا وه. داخلي بیرته راغی اوورته یې وویل:

ښه هوښیار زلمیه دا راته وایه چه دا سند څنګه صحیح دی امام بخاری ورته وویل: له ابراهیم څخه روایت کوونکی زبیر دی چه دعدی زوی دی ابوالزبیر نه دی.داخلی وویل ستا خبره بلکل حقیقت دی.

په دغه وخت کی دامام بخاری عمر یولس کاله ؤ.کله چه دعمر په شپاړسم پار کی وروخوت د وکیع او عبدالله بن المبارك له خوا راټول شوی ټول احادیث یی حفظ کړی وو. *

دحج لومړی سفر:

په ۲۱۰ هـ کی دخپلی مور او ورور سره د حج په سفر روان شو مؤرخین لیکی چه دا دامام بخاری لومړنی سفر ؤ خو حاشد بن اسماعیل وائی چه امام بخاری زمونږ سره دبخارا مشایخو ته تللی ؤ چه عمر ئی د نهو کالو ؤ.د درس په حلقه کی چه به کښیناست ټولو خلکو به حدیث لیکل او یادول به یی خو امام به چپ اوخاموش ناست ؤ او یو ټکی به یی هم نه لیکه ملګرو به یی ورباندی پړه اچوله او ورته به یی ویل چه لیکی ئی نه،نو راځی څه له؟ حاشد لیکی چه پنځلس شپاړس ورځی په همدی ډول تیری شوی په او ولسمه ورځ ورته امام بخاری وویل راوړئ خپلی دفتری چه څه مو لیکلی دی.تر دغه وخته مونږ پنځلس زره آحادیث لیکلی وو ټول مو د امام بخاری په وړاندی کیښودل. امام ټول احادیث له یادو واورول او مونږ پوه شو چه کومه نادره او نایابه خزانه زمونږ په دفتر کی پرته ده هغه دامام بخاری په سینه کی حفظ ده او خپل لیکلی احادیث مو دامام د یادداشتونو له مخی اصلاح کړل.

دغه شان لویو لویو استادانو او محدثینو دامام بخاری په وړاندی د ادب ګونډه وهلی او دهغه په علمیت او رب ورکړی نبوغ او عالی استعداد باندی یی اقرار او اعتراف کړی دی.

دارمی له امام نه مشر ؤ مګر فرمایل به یی چه زمونږ په ډله کی تر ټولو ستر عالم، لوی فقیه، تر ټولو زیات علم غوښتونکی او زیار کښ امام بخاری دی.

ابراهیم خواص وائی ما د ابوزرعه په شان جلیل القدر عالم په خپلو سترګو ولیدچه لکه د کوچنی ماشوم په شان یی له امام بخاری څخه د حدیث علل زده کول.

محمد بن حاتم،وراق او محمد بن یوسف فربری دخپلو سترګو لیدلی واقعه بیانوی او وایی چه امام بخاری به د شپی پنځلس شل ځله له خوبه ویښیده چراغ به یی روښانه کاوه او د حدیثو مطالعه به یی کوله.

د عراق یوه پیښه:

ابن خلکان لیکی چه له علم حدیث سره د امام بخاری د بی پناه مینی شور ورو ورو هر ځای ته ورسید که څه هم له هغه سره دسفر وسایل ډیر کم وو خو امام بخاری بیاهم له خپل هیوادڅخه ووت او عربی نړۍ ته ورسید او له سترو محدثینو څخه یی د خپل علم په زیاتوالی کی استفاده وکړه، د خراسان، حجاز، عراق په بیلابیلو سیمو کی یی علمی سیاحتونه سرته ورسول دعلم او فضل ګلونه یی له هر ځایه راټول کړل او کله چه بغداد ته ورسید نو دعراق علماؤ وغوښتل

(*) تیسیرالباری فی شرح بخاری (ص - د)

چه دهغه دعلمی ژورتیا جاج واخلی، هغوی که څه هم دامام بخاری د خارق العاده فضل او کمال شهرت اوریدلی ؤ خو بیا یی هم غوښتل په خپلو معلوماتو باندی د تصدیق مهر ولگوی د ښار علما راټول شول او دیوی علمی غونډی دجوړیدو تابیا یی وکړه او امام ته یی په دغه علمی غونډه کی دگډون دعوت ورکړ او غونډه په دی ډول پیل شوه چه لسو تنو هر یو تن دامام په وړاندی لس لس آحادیث بیان کړل چه په اسنادو او متونو کی ئی تغیر او تبدیل هم راوستی ؤ، امام دغه احادیث اوریدل او دهر یو په ځواب کی به یی ویل: لااعرف. څینو ظاهر بینو کسانو فکر کاوه چه امام دنقد او نظر په معیار پوره نه شو خو هغه کسان چه الله تعالی ورته د فهم او فراست دولت ورکړی ؤ پوه شول چه بخاری رښتیا هم امام بخاری دی. کله چه لسو تنو هر یو لس لس احادیث د اسنادو او متن له تغیراتو سره واورول نو امام هر یو تن په ترتیب سره راوغوښت او هر یو ته یی دهغه د اورول شوی حدیث صحیح سند او متن قرائت کړ،حاضرین دهغه په خارق العاده استعداد او دحافظی دقوت په آزمایش گوته په خوله حیران پاتی شول.

یوسف بن مروزی وائی چه زه د بصری په جامع جومات کی ناست وم، ناڅاپه یو نقیب غږکړ:ای عالمانو! محمد بن اسماعیل بخاری را ورسید، خلکو دهغه په لور منډی کړی زه هم دخلکو په هجوم کی وړاندی لاړم ځوان امام بخاری می ولید چه د یوی ستنی په څنگ کی په نفلو ولاړ دی. کله چه له لمانځه څخه فارغ شو خلك تری راتاو شول او ورنه یی وغوښتل چه د املاء یوه غونډه جوړه کړی. امام بخاری دهغوی په غوښتنه داملاء د مجلس اهتمام وکړ او د دغه مجلس په ترڅ کی یی داسی احادیث ولیکل چه دبصری علماؤ تر دغه وخته نه وو اوریدلی. ابن مروزی وائی چه په دغه وخت کی دامام بخاری عمر ایله شپږویشت یا اوه ویشت کاله ؤ.

داوخت که څه هم دهغه دځوانی دور ؤ خو د فضل او کمال شهرت یی دومره عام شوی ؤ چه دلیرو ځایو څخه به خلك د حدیثو د اوریدو لپارهغه ته راتلل، دحفظ حدیث په کار کی یی ډیر ډیر ستر محدثین شاته پری ایښی وو.

اسحاق بن راهویه چه په خپله پوهه یی فخر کاوه یو محل له امام سره مخامخ شو او دخپل ځان په باب یی وویل زه داسی سړی پیژنم چه د دماغو په مجله کی یی اویازره احادیث محفوظ دی. امام بخاری په برجسته آواز وویل الحمدلله دلته داسی سړی هم شته چه په دوو لکو احادیثو باندی کامل عبور لری.

تألیفات:

پخپله دامام بخاری قول دی چه وایی هغه وخت چه ما د قضایای صحابه په نوم کتاب لیکه نو عمر می اتلس کاله ؤ. ورروسته په مدینه منوره کی په هغه مقام کښیناست چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغه په باب فرمائی: **مابین بیتی ومنبری روضة من ریاض الجنة.**

امام د رسول الله صلی الله علیه وسلم د پاکی روضی په اړخ کی کینیناست او دکتاب التاریخ په لیکلو یی پیل وکړ. دلته قندیل او چراغ نه ؤ. په دی وجه به یی یوازی دسپوږمۍ په شپوکی لیکل کول، د دغه کتاب په باب پخپله امام بخاری وائی: په کتاب التاریخ کی داسی نوم نشته چه قصه یی ماته یاده نه وی خو قصه می ځکه ونه لیکله چه بیا به کتاب د کتاب په شکل نه بلکه د یو دفتر په شکل به رامنځته شی.

د هغه د ټولو نه مهم اولور تالیف صحیح بخاری دی بلکه که وویل شی چه دا هماغه کتاب دی چه دامام بخاری شخصیت ته یی فوق العادگی وربخښلی نو دواقعیت او حقیقت سمه ترجمانی به مو کړی وی.

حافظ ابن حجر عسقلانی«رحمه الله» فرمایی چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو په عصر کی دحدیثو د ترتیب او تدوین رواج موجود نه ؤ یوه وجه خو یی دا وه چه د نزول قرآن په وجه دحدیثو لیکل منع وو او بله دا چه په دغه وخت کی دخلکو ذهن او حافظه پاکه او د اعتماد وړ وه. برسیره پردی دلیکلو او طباعت اسانتیاوی موجود نه وی. کله چه دصحابه کرامو عصر تیر شو او دتابعینو زمانه پیل شوه نو بیلا بیلی فتنی راپورته شوی، د حافظی، ذهن،دیانت اوخلوص انحطاط پیل شو. ددغو شرایطو په نظر کی نیولو سره علماؤ غوره وګڼله چه اوس باید دحدیثو دترتیب او تدوین په کار پیل وشی کنه داسلام مهم جز او د کتاب الله تشریح به له لاسه ورکړو. له ټولو نه وړاندی ربیع بن صبیح او سعید بن ابی عروبه او نورو دحدیثو په راټولولو پیل وکړ، دغو کسانو په هره موضوع جلا جلا کتابونه ولیکل، وروسته دریمه ډله راپورته شوه او احکام یی راټول کړل، امام مالك موطا ولیکه چه د حجاز دخلکو د قوی او مستندو روایتونو ذخیره ګڼل کیږی او ورسره یی دصحابهؤ او تابعینو فتاوی هم پکی شاملی کړی.

ابن جریج په مکه کی، امام او-زاعی په سوریه کی، سفیان ثوری په کوفه کی او حماد بن سلمه رحمهم الله په بصره کی دغه ټول تالیفات وکړل. نورو علماؤ هم دهغوی په تقلید ډول ډول کتابونه ولیکل کله چه دوهمه هجری پیړۍ پای ته نږدی شوه نو محدثینو ته دا فکر پیدا شو چه باید د احادیثو مجموعی ولیکی او داسی کتابونه ترتیب کړی چه په هغو کی یوازی احادیث موجود وی نه دصحابه ؤ او تابعینو اقوال او فتاوی. په دی ډول دمسانیدو لیکل پیل شول او عبدالله بن موسی عیسی کوفی،اسد بن موسی اموی، نعیم بن حماد خزاعی او نورو مسانید ترتیب کړل. وروسته نورو محدثینو هم دغه لاره خپله کړه او ډیر کم داسی کسان وو چه له دغه ویاړ نه بی برخی شول. کله چه امام بخاری دغه تصانیف ولیدل نو فکر یی وکړ چه دغه کتابونه د ترتیب او تدوین له حیثه ځانګړتوب لری مګر یوازی دصحیحو احادیثو تر څنګ د ضعیفو احادیثو موجودیت د امام بخاری عالی همت دی ته وهڅاوه چه

باید دصحیحو احادیثو د راټولو په لور گام پورته کړی. ددی نه علاوه یی یوه ورځ د اسحاق بن راهویه په مجلس کی واوریدل چه هغه وویل: کاش داسی کوم کتاب ولیکل شی چه یوازی صحیح احادیث پکی راټول شوی وی. دا خبره ټولو واوریده خو په زړه پوری د هغه چا ونښته چه په نصیب کی یی د دغی ستری چاری دسرته رسولو ویاړ له لومړی ورځی څخه لیکل شوی و.

امام بخاری د یو جامع صحیح کتاب دلیکلو اراده وکړه په دغه وخت کی یی خوب ولید چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وړاندی ولاړ دی او ببوزی وهی، له معتبرینو څخه یی د تعبیر پوښتنه وکړه هغوی ورته وویل: ته به دحضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم له کلام څخه د کذب او افترأ مچان وشړی.

دغه خوب دامام بخاری په عزم او اراده باندی دتوثیق مهر ولگاوه او د دغی ستری کارنامی دسرته رسولو لپاره یی دهمت ملا وتړله او دهغو شپږو لکو احادیثو څخه یی د انتخاب کار پیل کړ چه په حافظه کی یی محفوظ وو.

هغه د بخاری په لیکلو او ترتیب کی یوازی دعلم،ذکاوت او حفظ له قوت څخه کار وانه خست بلکه د خلوص، دیانت، تقوی او طهارت حد یی هم وړاندی تمام کړ او د احادیثو د ترتیب او تدوین کار یی په دی ډول پیل کړ چه کله به یی دیو حدیث د لیکلو اراده وکړه نو لومړی به ئی غسل وکړ، په الهی دربار کی به په سجده پریوت او بیا به یی یو حدیث ولیکه.داسی ښکاری چه په دغه طریقه تر اوسه پوری هیڅ یو لیکوال خپل کتاب نه وی لیکلی.داطریقه هغه یوازی دحدیث لیکلو په وخت نه وه خپله کړی بلکه د ابوابو او تراجمو دلیکلو په وخت به یی هم ددغه بی مثاله اخلاص او تقوی مظاهره کوله.

دشپاړسو کالو سختیو او کړاوونو نه وروسته دغه کتاب سرته ورسید او په دی ډول داسی یو تصنیف منځته راغی چه بیله کمی زیاتی یی د اصح الکتاب بعد کتاب الله لقب وگاټه. داسلامی امت زرگونو محدثینو په دغه لوړه دختلو کوشش وکړ هماغه دامام بخاری په لاره یی د تللو هاند وکړ او ځانونه یی وازمایل خو هغه ویاړ چه دغه مقدس کتاب ته د الله تعالی له لوری مقدر شوی ؤ د کاڼی د کرښی په څیر ابدی شوی وو او تل پاتی.

برسیره پر بخاری شریف، دامام بخاری دوه ویشت نور مهم کتابونه شته.اگر چه د جامع صحیح پلوشو د دغو اثارو رڼا تته او خړه کړی ده خو په اهمیت یی ټول مقتدر علماء قایل دی په دغو اثارو کی زیات شمیر دمستندو علمی ذخیرو درجه لری د مثال په توگه تاریخ کبیر چه امام بخاری داتلس کلنی په عمر د رسول الله صلی الله علیه وسلم د روضی ترڅنگ لیکلی دی.تاریخ صغیر هم یو بی مثاله تصنیف دی تاریخ اوسط، الجامع الکبیر، کتاب الهبه، کتاب الضعفاء، اسامی الصحابه، کتاب العلل، کتاب المبسوط، الادب المفرد او نور د امام بخاری په مشهورو تالیفاتو کی شمیرل کیږی.

دښمن مو وپیژنئ

یهودیت



لیکونکی:استاد نظرمحمد فاریابی
ژباړه: نجیب الله

په حقیقت کی یهود او شیطان دشر او فتنی دوه مخونه دي
چه شیطان ئی پټ اوچپه مخ او یهودیی راسته او ښکاره مخ دی.

او که چا دیهودو دژوندپه هکله څه لوستی وی نو یوه لحظه به هم په دی کی شك ونکړی چه هغه یهودی ته دکتنی په وخت کی دبنی آدم په صورت او جامه کی نغښتی شیطان ته گوری یهودیان هغه خلك دی چه دالله تعالی دشریعت له منلو نه ئی ډډه وکړه او دهغه دین ئی بدل کړ. یهودی قوم چلباز- مکار- او دوکه مار قوم دی، دا یو خسیس او لئیم قوم دی، چه له کینی، حسد، طمعی، حرص، غدر او خیانت نه ډك دی، بشریت او نړیٔوالو ته دسیسی او لانجی جوړوی او هغوی ته ضررونه رسوی، هوبه هو لکه څنگه چه الله تعالی د دوی حال بیان کړی .نو همدا وو چه مونږ ضروری وبلله، ترڅود یهودیت اصلی څیره خلکوته بربنډه کړو .هغه شریر او کافریهودیت چه خپله هوسائی او سوکالی خلکوته په ضرر او تکلیف رسولو کی وینی چه دښو په تیارو کی ئی دالحاد او ماسونیت دتجسسی ټولگیو او لاسپوڅو حکومتی ادارو او همدارنگه دکفری وضعی قوانینو په واسطه ترسره کوی او ددی کار دښه عملی کولو لپاره دمال او ښځو قوي پټی په لاس لری.

دیهودیت پیژندنه

یهودیت د هغو عبرانیانو دین دی چه د نسب سلسله ئی ابراهیم علیه السلام ته رسیږی او د هغو بنی اسرائیلو په اسباطو پیژندل شوی چه د هغوی دهدایت لپاره الله تعالي موسی علیه السلام راستولی ؤ او د هغه د تائید لپاره ئی تورات پری نازل کړ.

یهودیان دخپل تاریخ سرچینه په لمړی پړاؤ کی له تورات نه اخلی. او کوم جعلی تورات چه له یهودیانو سره دی هغه د درواغو، گمراهیو او جعلکاریو نه ډك کتاب دی، چه حق او باطل پکی سره گډوډ شوی دي، او همدا وجه ده چه تاریخ پوهان ئی د خپلو معلوماتو دراټولولو معتبرمصدر نه گڼی. نو پکار دی چه څیړونکی له اول سرنه خپل لوستونکی په دی وپوهوی چه دیهودو دتاریخ دمبدأ په هکله په خاصه توگه او دهغوی د مجموعی تاریخ په هکله په عامه توگه مؤکدي نتیجی ته رسیدل ناممکن دی.

داځکه چه یهودو له هغی ورځی نه چه د نړیوال تاریخ په پرده راښکاره شوی، خپل تاریخ په اسرارو او الغازو پوښلی دی.

او دخپل ژوند دکړو وړو څرگندونه

ئی دهغه څه په خلاف چه ددوی په سینو کی دی کړی ده،ددوئ ټول تاریخ دهغو پهلوانیو او سرتمبه گیونه حکایت کوی چه ددوی اوهغو لویو امپراطوریو او قومونو ترمنځ واقع شوی چه ددوی ترڅنگ ئی ژوند کاؤ. څرنگه چه دوی دشمیر په لحاظ ډیر لږ. او ضعیف وو او دکار روائیوساحه ئی دامکانیاتو دساحی نه پراخه وه، د دوی فاسدی آرزوگانی له هغی نه ډیری اوچتی وی چه ددوی سره همسایه امپراطوری او لوی قومونه دی هغه تحمل کړی،نود مخامخ ډغری او مقابلی دوسعی نه درلودلو په خاطر ئی هغه چال چلند ته لاس واچاوه چه یو دوکه ماره ضعیف او مستضعف ئی ترسره کوی. ددرواغو او ټگیو اسلوب ئی خپل کړل اودپردی ترشائی په کار پیل وکړ، نو ددوی داعمل ددوی په تاریخ کی په داسی شکل ثبت شو چه ترننه هیڅ یو عالم په دی نه پوهیږی چه یهود دخپل دی اعمالو دتر سره کولو نه څه مراد اوهدف لری اوله دی نه څه غواړی؟خو خپله یهودیان په دی ښه پوهیږی چه هغوی څه غواړی ؟ او څه تری غوښتل کیږی؟ نو په دی اساس دیهودو تاریخ یو مبهم اوله غموض نه ډك تاریخ دی، چه خلك پکی هغه څه وینی چه نور ئی ورته وړاندی کوی او یا ئی یهودیان ورته د ټگۍ،کبر (لوئی)، چل او گمراهئ په کنډولیو کي تقدیموی.

علمی ناقدان او تاریخ پوهان په دی تأکید کوی چه دپخوانی اسفارو (اسفارالعهد القدیم چه دیهودو دتاریخ اساسی مصدر گڼل کیږی)اکثره برخه له خرافاتو او خیالی قیصو نه ډکه ده چه له حقیقت او واقعیت سره هیڅ ډول سمون نلری او دیوسفر اوبل سفر یادیو اصحاح او بل اصحاح ترمنځ په لغوی اسلوب کی دقوی فرق او توپیر موجودیت خو لاپه ځای پریږده حتی چه دیوه اصحاح په داخل کی دیوی فقری لغوی اسلوب دبلی فقری سره فاحش توپیرلری.

او همدارنگه دی پوهانوته دخپلو علمی څیړنو په دوران کی داهم جوته شوه چه ځینی اسفار کله کله تفصیلی رخ اختیار کړی او کله هم اجمالی، له دی نه دا ثابتیزی چه داسفارو ټول کتابونه په یوه واحده زمانه کی لیکل شوی دي نو په دی اساس دااسفار د دی جوگه ندی چه دکوم څه لپاره دی اساس،مبدأ او یابنسټ وگرځی. پداسی حال کی چه لیکونکو ئی چټیاتو او تاریخ ته په یوسترگه کتلی او په حقیقت او خیال کی یي تمیز نه دی کړی.

یهودی ډلی ټپلی:

۱-فرسیان: یعنی سخت دریزه (متشددین)چه په احبارو اورهبانیونو (دالله تعالی دوستان) او ربانیون باندی یادیږی، دوی عبارت له هغو متصوفینو څخه دی چه ودونه نه کوی.

۲-الصدیقون(ریښتونی):

دا نوم د دی ډلی سره مطابقت نلری ځکه دوی په انکار کی پوره شهرت لری، دوی له مرگه وروسته ژوندنه منکر دی،له حساب نه منکردی، جنت او دوزخ نه منی، په تلمود ایمان نلری او له ملائکو اومسیح موعود نه هم منکر دی.

۳-المتعصبون: دوی فکراً د الفریسیون له ډلی سره نږدی دی، خو ددښمنئ او نه بخښني او نه تیرید نی دخوی څښتنان دی.

٤-الکتبةوالنباخ(لیکوالان اومرزایان): دوی دخپلی مرزایي او

لیکنی په ترڅ کی دیهودي شریعت سره آشناشول نودوعظ او تبلیغ دنده یي غوره کړه اودوي ته حکیمان او باداران هم وائی او د أب(پلار) په لقب ملقب دی.

۵-القراءون(لوستونکی):

دادیهودو یوه کوچنۍ ډلګۍ ده چه دفریسینو ضعیف کیدو نه وروسته ئی تبارزوکړ او دهغوی متابعت ورته په میراث پاته شو،دوی عهد قدیم ته په درنه سترګه نه ګوری او هغه نه منی، په تلمود ایمان نلری او اعتراف پری نکوی، ځکه چه دوی دتورات په شرح کی ځان ته دآزادۍ حق ورکوی.

٦- سامریان یاالسامریون:

دایوه یهودی شوی (متهودین) ډله ده چه دبنی اسرائیلو له قبیلی نه نه شمیرل کیږي، د دوی اصلی هستوګنځای او ټاټوبی د بیت المقدس غرونه دی، دوی دموسی،هارون او یوشع علیهم السلام نه پرته دبل چا نبوت نه منی او دعیسی علیه السلام دزیږیدنی نه سل کاله وړاندی په دوی کی ځینو کسانو دپیغمبرۍ دعوي هم کړی وي.

۷- السبئیة: دادهغه عبدالله بن سبأ منونکی او پیروان دی چه داسلام دلمنځه وړلو او ټوټه کولو په خاطرئی اسلام ومانه او همداسی ئ چه د حضرت عثمان رضی الله عنه په ضد ئی مسلح پاڅون وکړ، په خپل قولی او عملی کارونو ئی دفتنی اور بل او هغه ته ئی لمن ووهله او همدی ؤچه آحادیث ئی وضع کړل، ترڅو خپلی رأئي او نظریی ته ثبوت پیداکړی، نو په رښتیاسره دی دهغو سیاسی فتنو او جعلکاریو مخ کی دی چه داسلام د سپیڅلی دین په لباس کی ئی ترسره کړی دی.

یهود او د هغوی ناروا غوښتنی:

دډیرو پیړیو راپه دیخوا یهودیان په یوی داسی سری نقشی او پلان کار کوی چه غایه او مطلب یي په ټوله نړۍ مسلط کیدل دی، تر څو د داؤدعلیه السلام له نسله ځنی یو څوک پری حکومت وکړی اودبنی اسرائیلو مملکت اعاده شی، ددنیا ټول ولسونه یهودو فرمانبرداران شی اودوی په خپل دی پلان کی په لمړی ځل ورسلیم(بیت المقدس) خپل پایتخت ټاکلی چه بیابه دهغه ځای نه دتل لپاره روم ته چه درومیانو دامپرطورۍ پخوانی پایتخت دی نقلیږي او څرنګه چه دین او اخلاق دیهودو ددی شومو پلانونو او اغراضو په لار کی قوی خنډاو ستونزه ده،او ترهغی چه په خلکو کی دین او اخلاق موجودوی، دوی نه په ټوله نړۍ خپل ټغر غوړولی شی او نه خلك خپل مریان ګرځولی شی، نو هماغه وو چه دی مجرمانو په لمړی ځل دخلکو ددین او اخلاقو په له منځه وړلو او تدمیر لاس پوری کړ اودخپل دی کار دسرته رسولو په منظور یی لاندی مادی وضع کړی.

١-دشرابو،سود،زنا،دروغ،خیانت غدر، فریب او نورو فاحشو اعمالو په ذریعه دولسونو افساد او دهغوی د اخلاقو لمنځه وړل.

٢-ددینی،فنی،سپورتی او سیاسی هیئتونو او دماسونی حلقو او سری ډلګیو په ذریعه دنړۍ په ټولو ملکو نو کی دفتنو، اختلافاتو او ګډوډیو داسی اورونه بلول چه دیهودو امت پکی خپل پیوستون وساتی اوددی ورانوونکی او تخریبکارانه عمل داثارونه بچ پاتی شی.

٣- د مادی وسائلو په ذریعه د حکومتونو هڅول، چه خپل ولسونه وځپی او بیا دهمدی وسائلو په ذریعه

د ولسونو هغول چه دخپلو حکومتونو په خلاف راپورته شی، ترڅو په دی ډول دولسونو او حکومتونو ترمنځ دفتنی اور بل شی.

او ددی لپاره چه ددوی ترمنځ دښمنی دتل لپاره دوام ومومی، نو لازمه ده چه هڅه وشی ترڅو دحکومت قوت او داولس قوت هريو په خپل ځای باقی پاته شی.

دا يوازي دين ؤ چه په نړۍ باندی ئی ديهودو دسيطری مخ نيوی کاوه او د هغوی نقشه ئی شنډوله، ځرنگه چه مسيحيت په خپله ابتدائي مرحله کی دين او اخلاق ته خلك رابلل نو يهودو ورسره خپله سرسخته دښمنی پيل کړه. يهودو دآسمانی اديانو پر ضد خصوصاً داسلام ددين پرضد جنگی درېز غوره کړی او په خپل دی کار سره غواړی چه نړيوال دځارويو درمو په څير يو خوا او بل خوا سوق کړی او ددوی داخسيس عمل چه په خلکو کی ئی خپر وی، ددوی دتحريف شوی او شيطانی دين دتعليمونو عملي تطبيق بلل کيږی.نو ضروری ده چه هرمسلمان ديهودو دچال چلند او د هغوی داهدافو او مقاصدو په هکله څه ناڅه معلومات ترلاسه کړی، ترڅو خپل ځان او نور خلك ددوی دشر او فساد نه وژغوری.

صهيونيستی حکما او پروتوکولونه (مقررات):

پروتوکولات:دځينو نه بدليدونکو استراتيژيك او اساسی مباديو مجموعه ده چه يهودپري دخپلو کړودنفاذځارنه کوي او دا په ننني عصر کی دنړۍ د بربادولو او په هغی کی دفساد دخوَرولو له ډولونه ستر او خطرناکه کشف شوی پلان گڼل کيږی اوددی پلان په خطراتو فقط هغه څوك پوهيدلی شی چه دپلان دهری کليمی څيړنه او لوستنه په ښه غوراو فکر سره وکړی او بيا په نړۍ کی هغو گوډيو اوورانکاريوته متوجه شي چه ددوی چاپيريال کي ترسره کيږي نوفقط په همدي وخت کي به ده ته ځرگنده شی چی داديهوديانو خبيثه او وحشتناکه دسيسه ده،چه غواړی دهغی په واسطه په نړۍ کی فساد، بی لاری توب او بربادی خوره کړی ،ترڅو دوی وتوانيدلی شی چه په نړۍ خپله سيطره قائمه او دهغی په مسير حاکميت پيداکړی.

او دايوه شريره، سرتمبه، څيروونکی او خسيسه دسيسه ده، چه که دځمکی دسرټول ابليسان(شيطانان)او مجرمين سره راغونډشی او په خپل منځ کی ديوی چټلی او مجرمی نقشی دجوړولو په سر مسابقه وکړی ،بيابه هم پردی قادر نشی چه ددی پروتوکولاتونه خبيث پلان طرح او جوړکړی ،داهغه موامره ده چه په کال۱۸۹۷م يی د صهيونستانو د حکماؤ(خبثاؤ)لمړنی کانفرانس وزيږ اوه چه په کنفرانس کی شريکو دسيسه کارو شيطانانو په هغی اجرامی نقشي څيړنه پيل کړه چه په نړۍ باندی د يهودو دسيطری امکانات برابروی اوهمدارنگه دی گډون کوونکو اشرارو د يهودو مسؤليتونه او دندي په لاندي مواردوکي تعين کړی:

۱- داسرائيلو د حکومت د جوړيدو دمخه.

۲-داسرائيلو دحکومت دجوړيدو په وخت.

۳-او د اسرائيلو د حکومت د جوړيدو نه وروسته د هر يهودی دنده په گوته کړه او د هغوی ونډه ئی تعيين کړه.

د صهيونستانو د لمړی کانفرانس پريکړه ليکونه:

له کال۱۸۹۷میلادي نه تر کال ۱۹۵۱میلادي پوری یهودو تقریباً ۲۳ کانفرانسونه جوړکړل، چه ددی ټولونه مراد او مقصد په هغو پلانونو او نقشو کار کول وو چه د نړیوال صهیونستی مملکت دتأسیس لپاره ئی لارهواروله.

ددوی لمړنی کانفرانس په کال ۱۸۹۷میلادي کی په سویس پوری مربوط د پال په ښارکی د هرتزل تر مشرۍ لاندی شروع شو، په دی کانفرانس کی تقریباً ۳۰۰ کسانو ګډون وکړ،چه د پنځوسوو یهودی ډلو نمایندګی ئی کوله او ټول ئی دډیرو خبیثو صهیونستانو څخه ګنل کیدل. دوی په دی کانفرانس کی دخپل هغه سری پلان او نقشی دعملی کولو قرارداد منظور او پاس کړ،چه دهغه په ذریعه به ټوله نړۍددوی مریان وی او د حکومت واګی به دداؤد علیه السلام داولادی نه دیو پادشاه په لاس کی وی او دوی دټولو پریکړه لیکونو دسری او پټ ساتلو توصیه وکړه.

دمؤامری ځینی برخی اوټکی:

۱- یهود په دی نظردی چه په نړۍ کی د حکومتونو ټول موجوده سیستمونه فاسد دی، نو باید تر هغی چه د یهودی مملکت دجوړیدو وخت او نیته رارسیږی، ددی سیستمونو د لاخرابولو او فاسدولو لپاره هر اړخیزه هڅی او کوشش باید وشی.

۲- حکومت کول او د حکومتی ادارو پرمخ بیول یوه پاکه او مقدسه دنده ده، چه ددوی په نظر ددی په چلولو د یهودونه په غیر بل څوک نه پوهیږی.

۳- یهود باید په خلکو داسی حکومت وکړی لکه څنګه چه شپونکی ئی په څارویو کوی.

٤-دحیوانی شهواتو په ذریعه د خلکو تشویقول او په هغو کی دبی لاری توب او سرکوزیتوب خورول ،آن تردی چه دولسونو توان او طاقت بالکل ختم او لمنځه ولاړشی، چه د تیښتی ځای تری ورك اوبالآخر د یهودو په پښو کی ولویږی، چي ددی کاربنه وسیله شراب او ښځی دي.

۵- د یهود نه په غیر ټول خلك خصوصاً دهغوی مشران او واکمنان دسطرنج ددانو په څیر ددوی په لاس کی دی، چه کولای شی د ډار،مال ښځو، منصب او نورو فاسدو ذرائعو په وسیله هغوی خپل مریان وګرځوی.

٦- په پرله پسی اودوامداره توګه داقتصادی ستونزو او مشکلاتو راولاړول، ترڅو نړۍدآرام ساه وانخلی او دخپلو مشکلاتو دحل لپاره دي ته مجبوره شي چه د یهودونه دمدد غوښتنه وکړی او په ذلت راضی شی او یهودی حاکمیت دځان لپاره یو نیك فال وګڼی .

۷- ټول اعلامی وسائل لکه طبع، نشر اوصحافت او تعلیمی مراکز لکه مکاتب او پوهنتونونه او فنی اداری لکه تیاترونه او دسینماګانو شرکتونه، علوم او قانون جوړونه او اقتصادی کارو بار لکه مضاربتونه او داسعارو تبادله باید دیهودو په لاس کی وی اودهغوی په واسطه کنترول او اداره شی.

۸-دخلکو دبی لارۍاو دهغودپاك ضمیردلمنځه وړلو،د انسانیت دختمولو او په نړۍباندی د یهودو دسیطری او دټولو پخوانیو ذکرشوو مادو دتطبیق په منظور باید دهغو سرو او سپینو څخه کار واخستل شی چه دیهودو په لاس کی دی.

الله تعالی دی ددوئ دا ناولی او شوم دسایس شنډ او داسلام دعظیم او برین انقلاب په څپو کي محوه او خنثی کړی. (امین ثم امین)

دخاوری - ژبی - رنگ او نژاد طاغوت

داسلام ستر دښمن

دناسیونالیزم معنی د قومی او نژادی ګټو او آرزوګانو تحقق دی. د نیشنلیزم په قاموس کی نیکی هغه ده چه دقوم او نژاد دګټو او منافعو لپاره موثره ثابته شی که څه هم دروغ وی، بی ایمانی وی، ظلم وی او که بل کوم داسی ناوړه عمل وی چه د دین او اخلاقو له نظره ستره ګناه وګڼل شی. او بدی هغه ده چه دقوم او نژاد ګټو اومصالحو ته زیان ورسوی که څه هم رښتیا ویل وی، عدالت وی او یا کوم بل داسی عمل چه یو وخت داخلاقی فضایلو او ښیګڼو په ردیف کی راغلی وی. په ناسیونالیزم کی دافرادو د پوهی او بیداریٔ، اخلاقو او ټولنی ته دګټی رسولو معیار او ملاك دادی چه د قوم دګټو او مصالحو لپاره هر ډول سرښندنه وکړی که دسراو مال سرښندنه وی او که دضمیر او ایمان او یا داخلاقی او انسانی فضایلو قربانی وی او که دنفس او عزت او شرافت او عصمت قربانی وی خو په هیڅ حال کی باید ځان دقومی او ملی مصالحو دتحقق په لار کی له قربانی څخه ونه سپموی. دغه نظریه سره له دی چه په لومړی وخت کی د پاپ او قیصر دظلم او استبداد په خلاف دیو عام بغاوت او نافرمانی په شکل رامنځته شوه او شعار ئی دا ؤ چه قومونه باید دخپلو سیاسی او اجتماعی چارو په اجرأ کولو کی دخپل واك خاوندان وی خو وروسته پکی د لادینیت مکروب ورداخل شو او بالاخره لادینیت دقوم پرستیٔ په تخت کښیناست او بیا یی دهر دینی او اخلاقی نهضت مخالفت خپله فریضه او شعار وګرځاوه.

داسلام دمقدس دین دظهور په زمانه کی نسلی او سیمه ایز تعصبات او امتیازات داسلام دآسمانی دین د پرمختګ دلاری عمده اغزی وو.

د قومی او قبیلوی ویاړونو خیال د عربو دبیلابیلو قبیلو او اسلام تر منځ ستر جهیل پیدا کړی ؤ او دا غوښتنه یی کوله چه که دا قرآن په حقه سره د الله تعالی له طرفه نازلیده نو باید دمکی او طایف په یو لوی سردار باندی نازل شوی وی:

وقالوا لولانزل هذا القرآن علی رجل من القریتین عظیم. (الزخرف).

ابوجهل به ویل چه محمد صلی الله علیه وسلم غواړی درسالت په ادعا سره خپل قبیلوی ویاړونه زیات کړی. هغه به ویل مونږ په ټولو دنیوی چارو کی له عبدمناف سره مقابله وکړه او میدان مو تری ګټلی دی او په میلمه پالنه او سخاوت او بخشش کی سره یو شان یو، اوس هغوی ادعا کوی چه مونږ ته وحی نازلیږی. زما دی قسم په الله تعالی وی چه مونږ به هیڅکله دمحمد پیغمبری ته غاړه کښینږدو. دا یوازی دابو جهل نظریات نه وو بلکه د قریشو دټولو مشرکینو خبره وه چه د قومی او قبیلوی تعصب له مخی یی سره تړلی وه.

په دی ډول دقریشو ټول قبایل د

بنی هاشم په مقابل کی د ناسیونالستی تعصباتو په اساس سره یو موټی شول او بنی هاشم هم سره له دی چه ټول په اسلام مشرف شوی نه وو مگردقومی او قبیلوی اړیکو په بنأ درسول الله صلی الله علیه وسلم تر شا ودریدل او دهغه دحمایت او ملاتړ اعلان یی وکړ.

کله چه په مکه کی په مسلمانانو باندی دظلم او تشدد آسمان راښکته شو نو یو شمیر مسلمانانو دخپل قبیلوی قدرت او نفوذ په وجه د مشرکینو دزور زیاتی له متروکونه بچ پاتی شول.

عرب له ډیری پخوا زمانی څخه د بنی اسرائیلو د پیغمبرانو د پیشگویی په اساس د یو پیغمبر راتگ ته سترگی په لار وو خو کله چه درسول الله صلی الله علیه وسلم دعوت پیل شو هغه یواځینی عامل چه پخپله یهودیان یی له ایمان راوړلو څخه په شا وتمبول همدغه نژادی تعصب ؤ. هغوی اعتراض درلود چه پیغمبر څنگه دبنی اسرائیلو په ځای په بنی اسماعیلو کی مبعوث شو او دغه د ناسیونالیستی دتنگ سیاست پیروی وه چه هغوی یی دجذباتو په څپوکی د توحید اوالله پرستی دنجات ورکوونکی ساحل په ځای دشرك او بت پرستی په گرداب کی ډوب کړل.

دنصاراؤ حال هم له دوی څخه کم نه ؤ.هغوی هم دپیغمبر راتگ ته منتظر وو خو یقین یی دا ؤ چه راتلونکی پیغمبر به خامخا په سوریه کی مبعوث شی.

هغه ستره حربه چه یهودیانو په مدینه منوره کی دمسلمانانو په خلاف استعمال کړه همدغه ناسیونالستی جذبات وو. یهودانو به له منافقینو سره خبری اتری پیل کړی او د یو خونړی جنگ کوشش به یی کاوه.

له دغه ټکونه زمونږ مطلب ددی حقیقت ښکاره کول دی چه دکفر او شرك د جاهلیت نه وروسته، داسلام دبرحق دعوت ستر او ښکاره دښمن همدغه دخاوری،ژبی، رنگ او نژاد طاغوت دی چه باید اسلامی قوتونه ورسره په ټینگه مبارزه وکړی.

داسلام پیغمبر رسول الله صلی الله علیه وسلم دخپل پیامبرانه ژوند په درویشت کلنه دوره کی دکفر او شرك دمخالفت سره سره د جاهلانه عصبیتونو او ناسیونالیستی تنگ نظریو په خلاف سخته مبارزه وکړه.که داسلام تاریخ ته نظر وشی دا خبره به ډیره ټه ښکاره شی چه دبشریت لارښود سرور کاینات صلی الله علیه وسلم په څومره شدت سره د ژبی، وینی، رنگ او خاوری د ناروا امتیازاتو په خلاف جهاد وکړ او د انسان او انسان تر منځ ئی د غیر طبیعی امتیازاتو او تو پیرونو مانۍ رانسکوری کړی او ټول بنی نوع انسان یی دانسانی حیثیت له حیثه یو شان وگاڼه.درسول الله صلی الله علیه وسلم پیغام دا ؤ چه:ليس منامن مات على العصبية- ليس منا من دعى الى العصبية ليس منا من قاتل على العصبية.

یعنی څوك چه دعصبیت لپاره ځان قربان کړی زمونږله ډلی څخه نه دی څوك چه د عصبیت(ناسیونالیزم) دعوت ورواندی کړی له مونږ څخه نه دی اوڅوك چه دعصبیت لپاره وجنگیږی زمونږ په ډله کی نه دی (مسلمان نه دی).

بیا فرمایی: **ليس لاحدفضل على احدالابدين وتقوى الناس كلهم بنو آدم وآدم من تراب.**

یعنی هیچاته په هیچا باندی تفوق او برتری نشته مگر په دین داری او تقویٰ کی. ټول خلك د آدم اولاددی او آدم له خاوری جوړ شوی دی.

داسلام پیغمبر دنسل، وطن، ژبی او رنگ امتیازات په دی پیامبرانه ارشاد سره ملغی اعلام کړل:

لافضل لعربى على عجمى

ولالعجمی علی عربی ولا لابیض علی اسود ولالاسود علی ابیض الابالتقوی.

یعنی هیڅ عربی په عجمی او هیڅ عجمی په عربی او هیڅ سپین په تور او هیڅ تور په سپین فضیلت او برتری نه لری که فضیلت او برتری ده نو یوازی په تقوی او پرهیزگاری ده.

د بشریت لارښود دعربو شریفانو او سردارانو ته په خطاب کی وفرمایل: **واورئ اواطاعت وکړئ، زما اراده دا ده چه ستاسو امیر یو داسی حبشی وی چه سر یی دکشمش د دانی هومره وی تاسو باید د هغه اطاعت وکړئ.**

هغه وخت چه دمکی دفتحی نه وروسته دقریشو متکبری غاړی داسلام دعظمت په وړاندی راښکته شوی حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم دخطابی په ترڅ کی په صراحت اعلان وفرمایه: ښه واوری چه نن دویاړ او ناز او د وینی او مال هره دعوه ما تر پښو لاندی کړه.

بیا یی وفرمایل: **ایهاالناس کلکم من آدم وآدم من تراب لا فخر للانساب لا فخر للعربی علی العجمی ولا للعجمی علی العربی انّ اکرمکم عندالله اتقاکم.**

ترجمه:ای خلکو تاسو ټول د آدم اولاد یاست او آدم له خاورو پیدا ځ دنسب له پاره افتخار نشته عربی په عجمی او عجمی په عربی ویاړلی نه دی ستاسو تر ټولو معزز او قدرمن هغه څوك دی چه تقوی او پرهیزگاری کوی په دی ډول داسلام مقدس دین درنگ، ژبی، وینی او هیواد هغه تنگ ناسیونالستی حصار ونړاوه چه قومونه او ملتونه یی نه یوازی سره جدا کړی بلکه دیو بل وینو ته یی تږی کینینولی وو.د اسلام اعلی تعلیماتو د ناسیونالیزم لپاره د یو داسی نوی ماڼۍ اساس کیښود چه د نړۍ ټول ولسونه(که په هر قومیت اوملت پوری تړلی وی غریب وی که مالدار، د معزز خاندان غړی وی او که دغریبی کورنۍ غړی وی) یوازی او یوازی د اسلام او په واحد الله تعالی باندی د ایمان لرلو په بنا پکی د اوسیدو او هر ډول حقوقو مستحق دی.دلته که امتیاز او برتری ده نو یوازی په ایمان او تقوی ده نه په نسل او ژبه او قومی ویاړ او ناز.

داسلام دپیغمبر او د بشریت د لارښود دغه پیامبرانه ارشاد دبشری پرگنو تر منځ تساند او وروړگلوی نوی معیار او ملاك وټاکه او دنړۍولسونو ته یی دا ښکاره کړه چه الله تعالی او دهغه رسول صلی الله علیه وسلم ټول هغه وهمی اساسات او دجاهلیت دزمانی هغه ټول حسی او مادی قیود چه دبیلابیلو ملیتونو دبقا اوتداوم ماڼۍ ورباندی ابادې وې له بیخه ویستل او درنگ او نسل، وطن او ژبی، اقتصاد او سیاست ټول نامعقول امتیازات او تفرقی چه انسان دخپل جهالت او ناپوهی په وجه انسانیت ورباندی تقسیم کړی ځ له منځه لاړل او ټول انسانیت د انسانیت له حیثه مساوی او یو شان شو. الله تعالی او دهغه رسول ددغه ستر انقلاب په راوستلو سره یو نوی ناسیونالیزم چه په منطقی اساساتو ولاړ رامنځته کړ، سره له دی چه ددغه نوی ناسیونالیزم اساس هم په امتیاز او برتری ولاړ ځ خو مادی امتیاز نه بلکه روحانی او معنوی امتیازځ.دغه ناسیونالیزم انسان ته طبیعی صداقت چه اسلام نومیږی وربخښی ټول بشریت دالله تعالی اطاعت او بندگۍ، دنفس طهارت او تزکیی او نیك عمل او پرهیزگارۍ ته رابولی او بیا ورته لار ښایی چه که هر څوك دغه دعوت ومنی نو د دعوت منونکی ټول دیو ملت غړۍ شمیرل کیږی او هغوی چه له دعوت څخه منکر شول او رد یی کړله بیل ملت څخه شمیرل کیږی.په دی ډول اسلام دیو ملت نوم شو او ټول افراد یی دامت په نوم یاد شو.

وکذلك جعلنا کم امة وسطا.

اومقابل لوری یی دکفر او گمراهی قوم دی او متابعین یی که څه هم په خپل منځ کی څه ذات البینی اختلافات هم ولری بیا هم یوه ډله او یو ملت شمیرل کیږی.

والله لا یهدی القوم الکفرین.

د دغو ملیتونو تر منځ دامتیاز او تفوق اساس نسل او نسب نه بلکه اعتقاد او عمل دی. دامکان نه لیری خبره نه ده چه د پلار دوه زامن دکفر او اسلام په بنا له یو بل څخه جدا شی او دوه پردی او ناآشنا کسان په اسلام باندی په ایمان راوړلو سره دیو ملت غړی او سره ورونه شی.

دسیمی او هیواد اختلاف هم ددی ملیتونو ترمنځ دا متیاز او تفوق وجه نشی جوړیدای.دلته امتیاز دحق او باطل په بناء دی او دحق اوباطل لپاره سیمه او پوله نشته. حق هر چیرته حق دی او باطل هرچیری باطل دی، ډیر به داسی ولیدل شی چه دیو ښار،کلی او یا کور دوه تنه اوسیدونکی داسلام او کفر داختلاف په وجه له یو بل څخه جدا او دیوبل دښمنان شی خو برعکس د افریقا یو سړی چه په اسلام مشرف شی کولی شی د خپلی دوستی او ورورگلوئ اړیکی دآسیا له یو اوسیدونکی سره ټینگی کړی.

د رنگ اختلاف هم دلته دملی افتراق باعث نه گرځی دلته دمخ رنگ داعتبار وړ نه دی بلکه دالله رنگ اعتبار او ارزښت لری او هغه تر ټولو ښه رنگ دی.

صبغة الله ومن احسن من الله صبغة.

دا امکان شته چه یو سپین نژادی او یو تور نژادی داسلام په اعتبار دیو ملت غړی شی خو بر عکس دوه سپین نژادی دکفر او اسلام داختلاف په وجه سره جلا شی یو مسلمان شی او بل د کفر لار اختیار کړی.

د ژبی امتیاز هم په اسلام کی د اختلاف موجبات نشی برابرولی دلته د خولی ژبه معتبره نه ده بلکه دزړه ژبه د مدار او اعتبار لرونکی ده او همدا د زړه ژبه ده چه په ټوله دنیا کی خبری کوی او خلك وریاندی پوهیږی. په همدی اعتبار سره کیدای شی چه یو عرب له اروپائی سره ملگری شی او دوه عربی ژبی سره جدا شی.

په دی ډول هغه دایره چه اسلام د نیشنلیزم لپاره ترسیم کړی کومه مادی او حسی دایره نه ده بلکه دا یو ډول خاصه عقلی دایره ده چه دیو کور دوه اوسیدونکی پکی جلا کیدای شی او دوه ناپیژندلی کسان دشرق او غرب په لیری والی هم په کی داخلیدلی شی.

د دایری محیط د لااله الا الله محمدرسول الله کلمه ده او دا کلمه د دوستئ او دښمنئ معیار او ملاك هم دی.په دغه کلمه باندی اقرار د افرادو او ټولنو تر منځ دتجمع او ورورگلوئ باعث گرځی او انکار تری د جدا کیدو، دښمنئ او تشتت او پراگندگئ اسباب برابر وی.هغه کسان، کورنئ او ملیتونه چه ددغی کلمی څخه د انکار په نتیجه کی جلا شوی وی بیا نو وینه، خاوره، ژبه، رنگ او حکومت یی سره نشی متحد کولی.

او هغه ملتونه او پرگنی چه ددغی کلمی په سر سره یو ځای شوی او متحد شوی وی بیا نو غرونه او سیندونه، دژبی، نسل او رنگ اختلاف او د دینار او درهم مسایل دهغوی تر منځ دمحبت او اخوت مزی نشی شلولی هر مسلمان که په هر هیواد کی چه وی او په هر نژاد او قومیت پوری چه اړه ولری په دغه کلمه باندی د اقرار او عمل نه وروسته داسلامی ټولنی غړی دی، داسلامی حکومت تبعه دی، داسلام سپاهی دی چه باید د خپلو ټولو حقوقو څخه گټه واخلی. په اسلامی شریعت کی څوك داسی کومه ماده نشی په گوته کولی چه دهغی په اساس د ژبی او نسل، قوم او هیواد په اعتبار یو مسلمان په بل مسلمان باندی برتری اوتفوق لری.

په اسلامي نړۍ کې څه تېرېږي

دکمونستو پوځیانو په لاس د بوسنیا د مسلمانانو قتل عام

د یوګوسلاویې د له منځه تللو نه وروسته آزادشوی اسلامي هیوادبوسنیا نن سبا دژوند اومرګ په کشمکش کې پروت دی.ددوهمې نړیوالې جګړې نه وروسته یوګوسلاویې بوسینا، کروشیا اوسلومینا هیوادونه په خپله استعماري قبضه کې راټینګ کړل،له دې نه وړاندې دغه سیمې د ترکیې ترلاس لاندې وې، دترکانو په عصر کې په دغه هیواد کې داسلام ددین پرمختګ ته زیاته پاملرنه وشوه، خو د نفوسو په مجموعي تعداد کې د عیسائیانو تناسب د ټل لپاره زیات ؤ.

یوګوسلاویې په دغه خطه باندې د خپلې قبضې د ټینګولونه وروسته د کمونیزم دتسلط لپاره زیاتې هلې ځلې وکړې او د همدغه هدف د سرته رسولو لپاره ئې په مسلمانانو باندې د ظلم او بربریت آسمان راښکته کړ، د همدغه ظلم او وحشت په وجه د مسلمانانو اوعیسائیانو ترمنځ دکرکې اونفرت یو لوې خلیج رامنځته شواودغه دښمنې ترننه پورې روانه ده دغو اتوو هیوادو په جمله کې چه د یوګوسلاویې دانحلال نه وروسته ئې آزادي ترلاسه کړه، یوهم دسربیا هیواد دی چه دزیات اهمیت لرونکی دی.وجه ئې داده چه دغه هیواد د یوګوسلاویې دوراثت په ګدۍ کښیناست اوبلګرادئې دخپل نوي حکومت دمرکزپه حیث اعلان کړ.د سربیا حکومت دنوموړو اتوو جمهوریتونو داتحاد لپاره زیاتې هلې ځلې وکړې، خو د غلامۍ او استعمارد پخوانۍ ترخې تجربې له مخې سلومینا، کروشیا او پخپله د سربیا هیواد دغه اتحاد ته غاړه کېنښوده او په نتیجه کې دکلونو کلونو په اوږدو کې پټ پاتې شوي نژادي تبعیضاتو او نفرتونو سر را اوچت کړ او د فساد او وینو تویولو لړۍ پیل شوه.دسربیا حکومت غوښتل چه آزاد شوي جمهوریتونه په خپله استعماري قبضه کې شکیل کړي، د همدغه ناوړه هدف دسرته رسولو لپاره ئې په هرهغه هیواد دپوځې یرغل تکل وکړ چه غوښتل ئې دخپلې آزادۍ او استقلال جنډه اوچته کړي .په لومړي سرکې ئې په کروشیا باندې نظامي

یرغل وکړ او اوس ئی په بوسنیا باندی خپل یرغلگر پوځیان وروغورځول .

د بوسنیا او سربیا سرحدی پولی یوله بل سره نښتی دی، د بوسنیا په شمال ختیځو سیمو کی سربی نسل اوسیدونکی له اوږدی مودی راهیسی په زیات شمیر سره آباد دی چه له سربیا سره سیاسی همدردی او خواخوږی لری، برسیره پر دی دغه خلك دسربیا له حکومت څخه نقدی او نظامی مرستی هم ترگوتو کوی .کله چه دسربیا پوځیانو دبوسنیا په مرکز ښارامبود او نورو مهمو ښارونو حملی پیل کړی،دغو خلکو دسربی یرغلگرو پوځونو ملاتړوکړ.د تیرو لسو میاشتو راپه دی خوا په دغه سیمه کی دداخلی جگړی په شان حالت روان .بالآخره چه کله په پخوانیو جمهوریتونو کی د دوی د سرنو شت د ټاکلو په باب ریفرنډم سرته ورسید نو دغو دریو جمهوریتونو د خپل آزاد حیثیت لپاره رأیه ورکړه.ملگرو ملتونو هم دسربیا ، کروشیا او سلووینا غړیتوب منظور کړ او د نړۍ زیات شمیر هیوادونو په رسمیت وپیژندل، خو ددی ټولو سره سره ددغوسیمو په ټولنیزواو اقتصادی چارو کی سمون او سمبالښت رامنځته نشواو امنیت ئی هم تأمین نه شو. گډوډۍ او لاقانونیت دې حد ته رسیدلی چه د بوسنیا جمهور رئیس علی جاغرت بیگوف وتښتول شو او بیا وروسته دسربیا د پوځ د یو قوماندان سره تبادله او پرېښودل شو.

دنیوزویك مجله لیکی چه دلسو میاشتو داخلی جگړی په ترح کی دسربیا یرغلگرو پوحونو د بوسنیا مسلمانان دی ته ارکرل چه دخپلی بقا لپاره خپل کلی اوکورونه پریردی .

دملگروملتو د رپوټ له مخی پنځلس لکه کسان ددغو جگړو په ترځ کی بی کوره شوی دی او پنځه لکه کروتی اوسیدونکی هم دسربیا له سیمی څخه په وتلو او تیښته مجبور شوی دی.له بلی خوا د کروشیا او بوسنیاله سیمو څخه لږترلږه سل زره کسان تښتیدلی دی. د ۱۹۹۲میلادي کال د مارج له میاشتی څخه تراوسه پوری تقریباً اوه لکه خلك دخپلو کورونو پریښودلو ته اړشوی دی.د ټایم مجلی له رپوټ سره سم دبلگراد حکومت نه یوازی دا چه دبوسنیاپه مسلمانانو ئی د ژوند ساحه تنگه کړی، بلکه په هغه سیمه کی ئی یوډول دردوونکی، ویروونکی او دظلم او تشدد نه ډك شرایط راپیدا کړی دی.دملگروملتو د سرمنشی بطروس غالی دا وینا دهغه د زیاتی مایوسۍ، ناامیدۍ او ناتوانۍ ښکارندوی ده چه وائی ددغو خونړیو مسایلو دحل لپاره د بین المللی وروړگلوۍ ټول امیدونه له خاورو سره خاوری شول، هغه یوگوسلاویه چه پرون د زیاتو هیوادو مجموعه وه، نن سبا د یو بل وینو ته تږی ناست دی.

د تأسف خبره داده چه دملگروملتو سرمنشی له دغی جنگ ځپلی سیمی څخه دامن د پوځونو ویستل پیل کړیدی اودنویوپوځونو داستولوڅخه ئی انکار کړیدی، دا ځکه چه سوله

غوښتونکی پوځونه هم د یوګوسلاویی د قوأو له حملونه په امن کی پاتی نه دی.بطروس غالی وویل چه اوس غربی نړۍته همدایوه لار پاتی وه چه له دغه جمهوریتونو سره سفارتی اړیکی وشلوی او پخپله دبیطرفۍ په ګوټ کی کښینی او په داخلی جګړوکی د ویشتل شویواو ټپیانو زیګروی او فریادونه واوری .

دسربیا په حملو باندی د احتجاج په ډول دامریکی دسفیرپه ګډون د اروپایی ټولنی د هیوادو ټول سفیران له بلګراد څخه وتلی دی .

په بوسنیاکی میشته سربیانو د بوسنیا دوه په دری برخه ځمکه ترخپلی قبضی لاندی ټینګه کړی ده.

په دغه یلغار کی د یوګوسلاویی پوځونه د سربیانو سره اوږه په اوږه وجنګیدل، تر اوسه ئی ۱۳۰۰۰ کسان وژلی اوسل زره تنه ئی بی کوره کړی دی.بل طرفته کروشیا او سر بیاسره لاسونه یوکړی او د بوسنیا د ویش ناوړه پلان ئی تیارکړی دی.د ځینو نړیوالو محافلوپه عقیده باید دسربیا په خلاف چه د نړیوالی وروړګلوۍ له حکم څخه ئی سرغړولی ،باید سخت بندیزونه ولګول شی، ددغه هیواد خارجی اثاثی منجمدی او تجارتی اړیکی دی ورسره وشلول شی .

دټایم مجله لیکی چه دیوګوسلاویا په خلاف د پراخو پوځی عملیاتو نه غیر دوینو دغه سیلاب چه زیات شمیر انسانی هستۍ ئی په مخه اخستی،ډب کیدل له امکان نه وتلی خبره ده.

دبوسنیا مسلمانان نن سبا له سختی نااومیدۍ سره مخامخ دی.

ددغه هیواد د نفوسو ۱۸ فیصده کروشی اوسیدونکی به په کروشیاکی او ۳۱فیصده سربیان به په سربیا کی پناه واخلی، خو۴۰فیصده مسلمانان به چه خپل وطن ئی همدا بوسنیا دی، چیرته لاړشی؟

د یادولو وړخبره داده چه دسربیانو او کروشیانو ترمنځ دښمنی د تاریخ له بیلو بیلومرحلو نه تیره شوی او له یونسل نه بل نسل ته په میراث پاتی ده، خو د یوګوسلاویی دمرکزی پوځ او دبوسنیا دمسلمانانو ترمنځ دکرکی اونفرت اورته اوس اوس تیلی وهل شوی او لوبه وجه ئی دا ده چه د یوګوسلاویی کمونست پوځونه غواړی په دغه سیمه کی اسلام او مسلمانان په کامل ډول له منځه یوسی، ځکه کمونست ښړیځی په دی حقیقت ډیرښه پوهیږی چه په نړۍکی ددغی پلیدی او رذیلانه مفکوری د انحطاط اوزوال اصلی عامل اسلامی جهاد او د مجاهدینو بی ساری قربانۍ وی. زمونږ باور دی چه نن سبا لکه څنګه چه د اسلام دبیا ژوندی توب مرحله رارسیدلی او په مسلمانانو کی د سیاسی ژوند او تحرک احساس غزون کړی،هیڅ امکان نه لری هغه کمونست نظام چه شوروی اتحاد په خپل ټول قوت سره له حتمی مرګ اوزوال څخه بچ نه کړی شو، نو په سربیا (یوګوسلاویه)کی به په مسلمانانو باندی څنګه غلبه حاصله کړی.

دماسونیت او هغه ته د منسوبو کسانو په هکله شرعی فتوی

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وأصحابه ومن اهتدى بهداه، آمابعد:

اسلامی فقهی ټولنی(مجمع الفقهی) په کال ۱۳۹۸ هـ ق د شعبان په میاشت کی چه د ۱۹۷۸/۷/۱۵م سره سمون خوری خپله لمړنۍ غونډه د مکی مکرمی په ښار کی پرانسته چه په هغی کی د نورو موضوع ګانو سربیره دماسونیت او هغی ته دمنسوبو کسانو قضیه هم وړاندی شوه. چه ددی په هکله د شریعت د حکم څرنګوالی څرګندکړی. نو همداوو چه د فقهی ټولنی غړو په خپلو څیړنو او تحقیقاتو پیل وکړ، او ټول هغه څه چه د دی خطرناکی ډلی(ماسونیت) په هکله لیکل شوی راغونډ او اسناد او وثائق ئی راجمع کړل چه په دی کی دهغو کسانو لیکنی او شهادتونه هم شامل دی چه په دی ډلی کی لوړو مقامونو ته رسیدلی وو او بیا وروسته تری بیل شوی او همدارنګه ددوی نشرات او ټولی هغه مجلی او اخبارونه چه دماسونیت په هکله ئی څه لیکلی راټولی کړی او وروسته له دی چه فقهی ټولنی داټول ذکر شوی مراجع او مصادر په ډیر غور اودقت سره مطالعه کړل نو دوی ته په قطعی اوشك نه قبلونکی توګه داثابته شوه چه:

۱-ماسونیت یوه سری او مخفی ډلګۍ ده چه دزمان او مکان دحالاتو دبرابریدو په صورت کی خپل ګوند په ډاګیزه توګه رامیدان ته کوی او کله چه حالات کرکیچن شی نو پرده پری وغوړوی او دخلکو له سترګوئی پناه کړی. مګر دماسونیت حقیقی مبادئ او اهداف په دواړو صورتونو کی سری ساتل کیږي، آن تردی چه ددوی لوړ رتبه غړی هم تری خبرنه وی. البته چه ډیر لږ او د لاس د ګوتو په شمیر خاص الخاص کسان چه د تجاربو او امتحانونو له پرله پسی لړیونه کامیاب وتلی او په ماسونیت کی اوچت مقام ته رسیدلی وی له دی حکم نه مستثنی دی.

۲- ماسونیت په ګرده نړۍ کی دخپلو غړو او منسوبینو دخپلمنځی اړیکو او ارتباطاتو دنده ترسره کوی خو داارتباطات او اړیکی یوازی ظاهری بڼه لری او غواړی چه ددی په واسطه ددوی له اهدافونه ناخبره کسان تمویه کړی او دا په ماسونیت کی د شاملو کسانو تش په نامه یوه داسی وروړګلوی ده چه هیڅ ډول عقیدوی مذهبی او قومی رول او ارزښت ته قائل نه دی. بلکه دا ددوی په ګمان دمطلقاً انسانی اصولو په بنیاد سره راټوله شوی ډله ده.

۳- ماسونیت ددی هڅه او کوښښ کوی چه د هری جامعی او ټولنی نه هغه کسان چه ورته د اهمیت وړ وی، د مادی وسائلو او شخصی ګټووټو د ترلاسه کولو په ذریعه اغواء او خپل تنظیم ته ئی راوبلی، هر منظم ماسونی چه د څمکی په هره برخه کی چه وی په دی مکلف دی چه خپل بل منتظم ماسونی وورو سره د هغه د اهدافو د ترلاسه کولو او د هغه دمشکلاتو د حلولو اودهغه دضرورتونو دپوره کولو په خاطر له هغه سره مدد او کومك وکړی او دهغه سره دهغه دسیاسی اهدافو دترلاسه کولو په خاطر خپل لاس یوکړی او هغه خپلو ټولو مقاصدو ته درسیدو په خاطر تائید کړی، ولو که ظالم او په باطله لار روان وی،اګر چه دوی تل ددی دعوه کوی چه مونږ مظلومان او دحق پیروان یو ترڅو په دی وسیله وکولی شی دجامعی دلوړو طبقاتو او د ټولنیزو اوچتو مراکزو د افرادو نه حقیقت پټ او هغوی په خپل دام کی ونښلوی.

٤- په ماسونیت کی غړیتوب

دخاصو مراسمو او اجتماعاتو په ترڅ کی ترسره کېږی چه په هغی کی دډار اوویری رمزی ډولونه اونمونی ښودل کیږی ترڅو نوی غړی په دی وپوهوی چه که دلوړو مقاماتو له اوامرونه چه داداری سلسله مراتبو په واسطه په پوره ایز ډول ترده رارسیږی، سر غړونه او یاتساهل وکړ، نو انجام به ئی زیانمن اوخطرناك وی اوله عبرت نه ډکه سزا به وموهی.

٥- په ماسونیت کی ناپوهو اوساده غړوته دخپلو عباداتو او مذهبی امورو په سرته رسولو کی څه ناڅه آزادی ورکړی شوی، خو دوی دتل لپاره دماسونیت په گوند کی دټیټی رتبی خاوندان وی او له دوی نه دخپلو هغو مقاصدو په سرته رسولو کی کار اخلی چه دوی ئی دپای ته رسولو اهلیت لری اما ملحدان او بی دینان او یا الحاد ته چمتو کسان ورو ورو او په تدریجی توگه دپرله پسی تجربو او امتحانونو په رڼاکی دهغوی داستعداد ،لیاقت او دهغوی د هڅو او کوششونو په اندازه چه دماسونیت دشومو اغراضو دپلانونو اونقشو دپلی کولو لپاره ئی ترسره کوی شاباشی او ترقی مومی.

٦- ماسونیت دسیاسی اهدافو لرونکی یوه داسی ډله ده چه دنړۍ په اکثره سیاسی او عسکری انقلابونو او ددنیا پرمخ دخطرناکه بدلونونو په منځ ته راوړلو کی په ښکاره او یاهم په پټ ډول لوی لاس لری.

٧- ماسونیت دیهودی بیخ او ریښولرونکی تنظیم دی چه پټه نړیواله مرکزی اداره ئی هم دیهودو په لاس کی ده او د صهیونستی پریکړو د تنفیذ مسئولیت پر غاړه لری.

٨- دماسونیت حقیقی هدف دټولو ادیانو له منځه وړل دی، په خاصه توگه دمسلمانانو دفکر نه داسلامی دین اوعقیدی راایستل او دوی له خپل دین نه منحرف کول.

٩- ماسونیت ددی هڅه کوی ترڅو هغه کسان چه په خپلو ټولنو کی دزیاتوشتمنیو او د لوړو سیاسی، اجتماعی او علمی مراکزو او رتبو خاوندان وی، خپل تنظیم ته راوبلی چه په دی توگه ددوی دنفوذ څخه دخپلو کارونو دکامیابۍ لپاره کار واخلی او همداعلت دی چه دماسونیت په تنظیم کی پاچاهان، جمهور رئیسان،وزیران او دولتی لوړرتبه ماموران شامل دی.

١٠-ماسونیت دخلکو دغولونی په خاطر ددنیا په هر گوټ کی په مختلفو او بیلابیلو نومونو متعددی څانگی لری که چیری دماسونیت پرضد دنړۍ په کومه سیمه کی مقاومت وښودل شی نو دبل نامه لاندی به په خپل فعالیت پیل وکړی، چه له مشهورو څانگوئی تورگوند، روتاریان ،لیونز او داسی نوری دخبیثو مبادیو او اعمالو ډلی دی چه داسلام د دین له قواعدو سره په کلی توگه تضاد لری.

او همدارنگه اسلامی فقهی ټولنی ته په ښکاره توگه دا حقیقت څرگند شو چه ماسونیت د یهودیت او نړیوال صهیونیت سره نه شلیدونکی ارتباط لری اوددی ارتباط په نتیجه کی ماسونیانو وکولی شول چه دنړۍ دډیرو ملکونو په خاصه توگه دعربی او اسلامی نړۍ دمسئولینو اعمال لکه دفلسطین قضیه او نوری اساسی قضایاوی ترخپل کنترول لاندی راولی او هغه دیهودو او نړیوال صهیونزم په گټه وڅرخوی.

نو دلته دذکر شوو معلوماتو په بناء او دماسونیت دنورو لویو خطرناکه اعمالو له مخی اسلامی فقهی ټولنی دا ضروری او لازمی وگڼله چه خپله شرعی فتوی په لاندی ډول صادره کړی.

(ماسونیت یوه خطرناکه اسلام دښمنه ډله ده چه داسلام دله منځه وړلو هڅه کوی او هرهغه څوك چه ددی ډلی له حقیقت نه باخبره وی او بیاهم دهغی غړیتوب لری او یاورته منسوب وی هغه کافر او دمسلمانانو له ډلی نه جدا دی.)

والله ولی التوفیق

عبدالله بن حمید په سعودی عربستان کی د قاضیانو دمجلس اعلی رئیس د رئیس په توگه.

(٢)محمدعلی الحرکان درابطه عالم اسلامی رئیس درئیس دمرستیال په توگه.

(٣)عبدالله بن عبدالعزیز بن باز په سعودی عربستان کی دعلمی څیړنو او تحقیقاتو د دارالافتاء او ددعوت او ارشاد رئیس دغړی په توگه.

(٤)ښاغلی محمد محمودالصواف.

ديموكراسي

دديموكراسئ د پيدايښت آصلي ټاټوبی د یونان خاوره ګڼلی شي، خو کله چه په آروپا کی کلیسا وغوښتل خپل واك نور هم پیاوړی کړی او د خلکو په ژوند پراخه او بشپړ تسلط پیدا کړی. نو د حکومتی واکدارانو او امیرانو دکلك مخالفت سره مخ شوه چه په نتیجه کی ئی پراخه جنګونه پیل شول.او هیڅ یوه هم ددی توان ونه درلود چه معامله دځان په ګټه غوڅه کړی نو همدا وخت ؤ چه د فرانسی ځینو پوهانو د دیموکراسی غږ پورته کړ، او ددی غوښتنه یی وکړه چه خلك دی په خپله خوښه ځانته خپل حاکمان وټاکی. تر څو ددوی چاری سمبال او قوانین ورته تدوین کړی او ددی تر څنګ دي دکلیسا إختیارات دهغی د اختصاص دساحی پوری محدود شی، چه په دی توګه ئی دین له سیاست نه جدا کړ او دهغه وخت ځینی مشهور عبارتونه او شعارونه زمونږ د پورتنی ادعا ښکاره ثبوت دی. لکه چه ویل به ئی:

* (اما لله- لله- ومالقیصر، لقیصر). څه چه دالله هغه به دالله وی او څه چه دقیصردی هغه به د قیصروی.

* **الدين لله،والوطن للجميع.** دين دالله تعالی او وطن دټولو.

* **لاسياسة فی الدين، ولا دين فی السياسة.** نه په دين کي سياست شته او نه په سياست کی دين.

نو که چیری د الله تعالی دین نافذ نه وی او حکومت دسیاست په لاس کی وی نو څوك به حکم کوی؟ ...آیا بشر کولای شی دخلکو د دردونو درمان وګرځی؟!

دیموکراسی دوه بنسټیزه ستنی لری چه د آزادی او برابری څخه عبارت دی خو دیموکراسی څه ته وائی؟

وائی چه: دیموکراسی په خلکو، دخلکو دحکومت څخه عبارت ده یعنی دخلکو سیاسی ډله به دخلکو په اجتماعی ډلی حکومت کوی چه له همدی ابتدا ئی خلك په دوو بیلا بیلو برخووویشل ۱- سیاسی ډله

۲- اجتماعی ډله چه د هری ډلی ځانته ځانته حقوق او واجبات دی.

د دیموکراسئ ځنی ډولونه:

مونږ دلته ددی هڅه کوو چه د دیموکراسئ ځینی ډولونه بیان کړو.

(۱) سیاسی دیموکراسی:

په دی نظام کی دخلکو حکومت د برابرئ او آزادئ په بنیاد جوړیږی چه

ټول خلك پكى پرته دكوم ژبنى، منطقوى، دينى او قومى توپير نه ژوند سرته رسوى، او د ښځو او نرو حقوق په كى برابر خوندى ساتل كيږي.

(۲) ادارى ديموكراسى:

دا ديو ډله ايز قيادت څخه عبارت ده چه دمشرانو او مسؤلينو د ګډون او دهغوى د سلا او مشورى په اساس د اهمو ولسى او دولتى معاملو پريكړى صادروى.

(۳) صنعتى ديموكراسى:

دهغه صنعتى نظام څخه عبارت ده چه په هغى كى كارګره طبقه دمسؤلينو سره په شريكه توګه په نظام پورى د مربوطو كميټو او څانګو له لياری په اداری كارونو، پلان جوړولو او صنعتى عملياتو كى ونډه اخلى.

(٤) مركزى ديموكراسى:

دا دكمونيزم اساسى او بنسټيزه نظام دى چه په هغى كى دحزب غړى د قاعدى نه انتخابيږى او بيا دوى د خپلو كارونو راپور خپلو مشرانو ته وړاندى كوى.

دا وو دهغى ديموكراسئ يو لړخ چه دوى ورته په درنښت ګورى او وائى چه په دى كى به اقليت د اكثريت فيصلو او حكمونو ته غاړه ږدى او ټيټه طبقه(ولس)به د لوړى طبقى (حكومت)پريكړى اواحكام تطبيقوى.

چه همدا پكى د مطلقى آزادى، عامى آزادئ او د هغو څلورګونو آزاديو مركزى نقطه ګڼل كيږى چه د ديموكراسۍ غوښتونكى ئى دخپلو سپيڅلو آرمانونو څخه شميرى.

او دا عبارت دى له:

۱-دعقيدى آزادى: چه مراد ترينه په الله تعالى باندى دكفر آزادى ده.

۲- د رآى آزادى: عالم او جاهل ته په مساويانه ډول كتل.

۳- دملكيت آزادى: چه دا هم په خپل وار سره د احتكار دروازه پرانيزى او ټولنه د فرد دمصالحو نه زاروى.

٤- شخصى آزادى: چه له هغې‌نه يو هم د جنسى غرائزو د اشباع آزادى ده چه په نتيجه كى يى د ايډز غوندى تباه كوونكى ناروغى او نورى داسى مهلكى بيمارئ منځ ته راغلى چه دوائى لا معلومه نده.

څينى پوښتنى

لمړى:دولسى حكومت په ساحه كى:

دقانون جوړونه د دولت د چارو سمبالول او په هغه پورى د مربوطه وسائلو او آلاتو ساتنه او صلاحيت او دمسؤلينو صلاحيتونه، دا ټول هغه كارونه دى چه فنى ماهرانو او متخصصينو ته ضرورت لرى.

نو آيا د پارلمان (ولسى جرګى) او د سينټ (مشرانو جرګى) ټول غړى د دى صفاتو څښتنان دى؟

اوكه دولس لخوا په ولس دحكومت كولو مسأله هسى يو خيال دى...؟

دوائى په ساحه كى:

داسى فرض كړئ چه ديوه ولس د وګړو شمير ۱۰۰ مليونه دى نو په دى كى به د آزادى وركوونكو تعداد ۳۰ فيصده وى يعنى ديرش مليونه كسان نوكه چيرى د رأى وركوونكو اكثريت په انتخاباتو كى برخه واخلى فيصدى به يى ۷۰ فيصده او يا به سلو كى چه

يوويشت مليونه كسان ترې جوړېږي ورسيږي.

نو كه دوى درى كانديد شوو كسانو ته ووټونه وركړي چه اول يى لس مليونه رأى وګټى او پاته يوولس مليونه رأى په پاتې دوو كسانو تقسيم شى نو دكامياب كانديد په برخه به د ولس د مجموعى تعداد لسمه برخه وى يعنى ١٠ فيصده نو تاسى ووائى چه دا د اكثريت حكومت دى؟ او كه داقليت حكومت؟

د رأى وركوونكو په برخه كى:

آيا ټول رأى وركوونكى د انتخاباتو د كار د سرته رسولو په منظور له پاكۍ او سپيڅلتوب نه كار اخلى؟ آيا په دوى كى داسى كسان نشته چه د پيسو په مقابل كى او يا دده په ګټه د كوم كار د سرته رسولو په منظور دى خپله رأيه خرڅه نكړى؟

دكانديدانو په ساحه كى:

آيا ټول كانديدان د نزاهت او سپيڅلتوب څښتنان دى او آيا په دوى كى داسى بډايان نشته چه خپله شتمنى يى د ناروا ليارو لكه د مخدره موادو تجارت، قاچاق او داسى نورو طريقو تر لاسه كړى وى؟ چه كولاى شى د بډو وركولو په ذريعه د خلكو رأى واخلى او يا د انتخابى حلقو او د رأى دشميرلو مسؤلين په خپلو پيسو راونيسى؟

او كه چيرى مونږ دخلكو د يوى ډلګۍ نه چه شمير يى لسو كسانو ته رسيږي وپوښتو چه: غوره دا ده چه د موزې اويا ماسۍ په مخ مسح وشى؟ او كه د هغى په تلى او څټ نو په دى لسو كى به درى كسان د لا آدرى(نه پوهيږم) ځواب وركوى او درى نور به يى وائى چه دهغى په مخ دى مسح وشى او څلور پاته كسان به يى دموزى په تلى او څټ مسح كول بهتره ګڼى.

چه په دى توګه به د ديموكراسى د قواعدو په اساس د اكثريت رأى د منلو وړ وى اود موزى په تلى به مسح كول د موزى د مخ نه بهتره وګرځى.

مګر اسلام د هغى پر مخ د مسح كولو حكم كوى په داسى حال كى چه د ځمكى سره دموزى تلى په تماس كى دى او دى ته حكمى طهارت (پاكى) وائى او داسلام له نظره د مسئلى په پوهيدلو كى د الله تعالى حكم اصل او اساس ګڼل كيږي لكه چه فرمائى:

«فسئلوا اهل الذكران كنتم لا تعلمون» ٢٣ آيت النحل.

او نه دا چه فسئلوا الأ غلبية !!

نتيجه:

له پورته ليكنى نه دا نتايج په لاس راځى:

١- ديموكراسى دعقل په اساس نه ده ټينګه شوى بلكه دادمنځنى حل (حل وسط) په بنسټ ولاړه ده.

٢-ديموكراسى دسليمى عقلى څيړنى نه بهر وتلى ځكه چه د څيړنو ليار يى تعقيب نكړه او په نتيجه كى يى ددى جرأت ونه موند چه د بارى تعالى به وجود اعتراف وكړى نو ددى نظام به څه قيمت او ارزښت وى .. !؟

٣- ديموكراسى په وهمونو او خيالونو ولاړ يو فكر دى چه له

واقعیت سره هیڅ شانی سمون او برابری نلری. او دا خبره چه گوندی په دیموکراسئ کی د ولس په ذریعه د ملك قانون، لایحی او اداری جوړیږی او یا دا چه د ټول ولس په ذریعه دملك حاکم ټاکل کیږی بالکل غلطه او بی بنیاده ده.

٤- په دیموکراسئ کی اقلیت په اکثریت حکومت کوی نه دا چه قدرت د اکثریت په لاس کی وی.

او د شریعت حکم د یو شی په قبلولو او دهغی په ردولو او یا دیو شی دصحت او عدم صحت په هکله د اسلامی اصولو نه ګڼل کیږی. چه دا دمسلمانانو د ژوندانه بنسټ او اصل شمیرل کیږی. او دا ناروا ده چه مونږ دی ددی اصل د منلو نه انحراف او سرغړونه وکړو ځکه چه الله تعالی فرمائی: «**فلاوربك لایؤمنون حتی یحکمون فیما شجر بینهم، ثم لا یجدوا فی انفسهم حرجاً مما قضیت ویسلموا تسلیما**»

(النساء آیت ٦٥)

هو! دا زمونږ اصل دی او مونږ پری ایمان لرو، خو د دیموکراسئ په نامه د ځینو غولول شوو اسلامی ځوانانو د خبرتیا په خاطر چه په حکم کولو کی انسانی عقل ته مراجعه کوی او یا دیوی معاملی او کار د فیصلی په هکله د چاپریال شرایطوته سر ټیټوی او انتخابی لاره خپلوی. مونږ دا لازمی وګڼله چه په خپله دي لیکنه کی د دیموکراسئ نظریه وڅیړو تر څو د هغی حقیقی بڼه خلکو ته روښانه شی.

زمونږ عقیده مونږ ته دا را په گوته کوی چه د دیموکراسی اساسات او بنسټونه د اسلامی شریعت د احکامو سره پوره توپیر او جلاوالی لری او دهغو سره په تناقض او تضاد کی دی.

دمثال په توگه:

*اسلام په یو عمل یا دحق حکم کوی او یا دباطل او هغه ته یا هدایت وائی او یا گمراهی خو دیموکراسی منځنی حل لټوی.

*په اسلام کی انسان د الله تعالی په بندګئ مکلف دی خو په دیموکراسئ کی د خپلو خواهشاتو بنده دی.

*په اسلام کی د بشر اعمال او کارونه باید په شرعی اصولو برابر وی خو په دیموکراسی کی د خپلو غوښتنو سره سم خپل کارونه سر ته رسوی.

*په اسلام کی د تشریع مصدر الهی وحی ده خو په دیموکراسئ کی یی مصدر ولس دی.

نو په دی اساس دیموکراسی په کلی توگه د اسلام شریعت سره نه پخلاکیدونکی دریځ لری چه په هیڅ صورت نه په اصولی مسائلو او نه هم په فروعی مسائلو کی له اسلام سره یو ځای کیدی شی. ځکه چه اسلامی کړنلاری د شریعت په واسطه او د دیموکراسئ کړنلاری د بشری ناقص عقل په واسطه تعین شوی دی او همدارنگه مسلمان د یو دیموکرات سره هیڅکله فکری اتفاق ته نشی رسیدلی، ځکه چه دمسلمان و یاړد الله تعالی په بند کی نغښتی دی او دیموکرات په خپلی آزادئ او نه تړل توب(بی لاری توب) ویاړی یعنی د خپلو خواهشاتو په بند گی کی.

د اقتدار چوکۍ

چوکۍ په منځ یوه ده، پسی هریو صیب کړم دی
قسمت کی به دیو وی زړه کی هریو سره غم دی

تنکي تنکي زخمونه ماویل چه به پیوند شي
شیندي راته پری مالگی په ظاهره کی مرهم دی

ښایسته کابل یی وران کړ دبیروت کانی پرې وشوی
شیعه راته ایران سکونړي داخل کی گلم جم دی

کوی هریو خپل سوی دیو له بل دپاسه
بل شوی دنفاق اورمی په کوروکلي چم دی

چا او ښکی پاکی نه کړلی دکونډو یتیمانو
لانور به څومره ژاړي چه ئی نوی نوی غم دی

په ډیرو قصابانو کی متل دی غوامرداره
نه بل باندی رضادي نه ئی خپله څه کارسم دی

داکوم رنگه بازي ده چه دوئ یی په میدان کړي
په جوش داقتدار دي حیران ورته عالم دی

ظاهر چرگه زما وه خو هگئ یی اوس دبل دي
هر یو د بادارمخکی اوس ورځي میده قدم دی

په ځای داخوت او محبت/نور څه دي (بانګ)
څه نوی تحفه نشته هم هاغه توپ او بم دی

دا کار خو انساني دی وحشت پکی دڅه شو
مهنی خو شمارل کیږي که هر څومره تورتم دی

داتاسی قضاوت اوس دالله لپاره وکړئ!
دا واړه حقیقت دی او که ماکړی ستم دی

راسره وژاړي

داسې به وی څوك چه مظلومان راسره وژاړي

کونډې او تور سری یتیمان راسره وژاړي

کلی اوکورونه ئی وحشیانو بمبار کړی دي

څوك دی چه خیمو کی عزیزان راسره وژاړي

دښتی او ډاګونه د وطن چه پرې ګلګون شولو

وینو کی لست پست چه شهیدان راسره وژاړي

وینه دمظلوم ئی چه شرابو غوندی نوش کړله

دی ظالم له لاسه په سوران راسره وژاړي

مالګی راله نور په پرهرونو باندی مه شیندئ

نشته بل همدرد مګر ګریوان راسره وژاړي

توری وریځی جوړی د بمونو د لوګو شولی

داسی معلومیږی چه آسمان راسره وژاړي

ډیر ئی ما او تا غوندی سخا کړی جیلخانو کی دی

څوك دی چه په ظلم د زندان را سره وژاړي

څوك د ژړا نشته دی(عابده) چاله ژاړی ته

ښائی په دی غم کی شاعران را سره وژاړي

دآزادئ پسرلی

لعل محمد «افسوس»

ای پسرلیه ستړی مشی! چه لا بیا راغـــلی
په کـــنډوالو بدل هیواد ته له کوم خوا راغلی

دآزادئ کوم یو پیـغام درسره شته دی کـه نه
که د پخوا په شان تش تور ځانله تنها راغلی

زمـــونږ دژونـد څه آرزوګانی دی راوړی که نه
حـال راتـــه وایـه په خـــندا که په ژړا راغلی

دکـونـډو،رنډو،یتیمانو څه تـسل به جوړ شی
که یـی لانور هم په دردو نو کی سیوا راغلی

دآزادئ غـوټـۍ به دی ګـلـشـــن کی وغوړوی
کـه په دی پـــاتـی ډنــډرونو څه بلا راغلی

دوطـــن ژوبـلو پرهرونو کی می مالګی دوړی
که یـی علا ج لره مـرهــمه مسیـحا راغلی

تا دافـغان دې در په دره ژوند تـه څـه راوړی
حه نیـکمرغی درسره شته که نیمه خوا راغلی

تا دافـغـــان ولـــس لپاره څـه تحفی راوړلی
له خـــپل مقامـه مرور یی که په غـلا راغلی

څـه دالله درضــا کار به دی له لاســه وشی
که دغرض بازار ته تــه هم په سودا راغلی

دژوند په شـپـو به می لانوره تـاریـــکی راولی
که علا مه دصــباوون یـــی او رڼا راغـــلی

ستا دنیکمرغ راتګ مثال به«افسوس» داووایم
چه دهیواد مجنون ته ته ورکــه لیلی راغـــــلی

دلیکونو بهیر

دعــوت مجله
پوست بکس: ٦١٤- G.P.O -پشاور
پاکستان

دکنړونو ولایت داسلامی امارت ددعوت او ارشاد له ریاست څخه امیر سلام «فانی»

ورور لیکی:

محترم ددعوت مجلی مدیر او نورو کارکوونکو!

اسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

له هرڅه دمخه دکنړ دلوړو لوړو غرونو له فضاءنه تاسی ته دافغانستان دآزادۍ مبارکی درلیږم .

وروسته له ډیرو سلامونو او نیکو هیلو دا دعاکوم چه الله تعالی دی ددعوت مجلی ریښتینی دعوت نور هم پسی ګړندی کړی، څکه ددعوت مجله مونږ ته دتوحید درس راکوی او دالله تعالی دین راته د رسول الله صلی الله علیه وسلم په طریقه ښایی.

ددعوت مجلی هر مضمون پخپل خپل ځای ډیر دقدر وړ دی، بالخصوص د شهید شیخ جمیل-الرحمن(رحمه الله) هغه ویناګانی چه دافغانستان آینده ستونزی او مشکلات یی دمجاهدینو دتنظیمونو په تعدد او عدم اتحاد کی ارزیابی کړی او نن هغه واقعیتونه دهرچاپه وړاندی عملی کیږی، زمونږ لپاره ډیر ګټورنصیحت دی او ددعوت مجلی ښکلازیاتوی. ددعوت مجلی دلاکامیابی په هیله !

امیر سلام «فانی»

دضلع مردان له رستم څخه عزیزالله «عزام» ورورلیکی:

ددعوت دپښتو مجلی سر محرر او نورو کارکوونکو ورونو!

اسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

له هرڅه نه مخکی ستاسی دټولو لپاره دالله تعالی په دربارکی ستاسی دشرعی مقصدونو او آرزوګانو دپوره کیدو دعاګویم.

مامخکی هم یو لیك دراستولی ؤ او هغه نشرته سپارل شویدی، دنشرکیدو یی ستاسی څخه ډیره ډیره مننه کوم هیله کوم چه دمنځنۍ آسیا داسلامی هیوادونو په سیاسی، عقیدوی او اقتصادی حالاتو باندی رڼا واچوی.

والسلام

ستاسی مخلص عزیزالله «عزام»

له اکوړه ختك دوهم نمبر کیمپ څخه غیاث الدین «توحیدی» داسی لیکی:

محترم ددعوت دپښتو مجلی مدیر او نورو کارمندانو !

اسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

زه د دعوت مجله لولم او دهر مضمون په لو ستلو ډیرزیات خوشحالیږم او دامضامین لکه دشهید شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) تقاریر او نصیحتونه، داسلامی امارت په هکله معلومات او مرکی او سلفی عقیدی ته دعوت، په هر ګڼه کی همیشه د الرئ جاری ساتئ، دابه ددعوت مجله ډیره پرمخ تللی کړی. همدارنګه مونږ یو انتقاد (نیوکه) لرو او هغه داچه تاسی ١٤١٢هـ ق کال دشعبان او رمضان دمیاشتو په ګڼه کی دلیکونو بهیر کی یو مارغه رسم کړی ؤ، هیله کوو چه ددعوت مجله کی دهر ډول تصویر نه ډډه وکړی یو خو دسنتو مخالف کاردی اوله بلی خوا مخالفینو ته داعتراض فرصت په لاس ورځی.ډیره ډیره مهربانی.

ستاسی ورور غیاث الدین «توحیدی»

زرولی خان «صدیقی» ورور دچکدری له کیمپ څخه لیکی:

محترم ددعوت مجلی مدیر او نورو ملګرو!

اسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

دسلام څخه وروسته له رب العزت څخه غواړم چه تاسی ټول به دصحت او عزت په لباس پټ یاست.

ددعوت مجلی په پښتو ژبه کی دلوستونکو په وړاندی ډیر قبولیت موندلی دی، مضامین یی دومره بی ساری دی چه زه یی دنورو جرائیدو او مجلاتو له کتلو څخه عاجزه کړی یم، په هر وخت کی دعوت مجله لکه دیو خوږ ملګری راسره وی او ترهغی یی باربار ګورم ترڅو نوی ګڼه راورسیږی.

زمونږ دایو تجویز چه که دنورو مضامینو سره سره په دعوت کی که ځینو لنډو داستانونو او قیصوته ځای ورکړئ نو ډیره به ښه وی.

ددعوت مجله تل ترتله ښاد باد!

زرولی خان «صدیقی»

محمدنادرشاه ورور دناوګئ له کیمپ څخه پخپل لیك کی لیکی:

خپلی نیکی هیلی او آرزوګانی ددعوت مجلی مدیر او نورو کارکوونکوته وړاندی کوم!

اسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

پدی ډیر زیات خوښ او خو شحاله یم، چه ددعوت دپښتو مجله وخت په وخت خپل دښایست او ښکلا پلوشی لکه د لمر دزرینو وړانګو په چټکتیا سره خپروی. الله تعالی دی ددعوت مجله په راتلونکی کی هم دافغانستان دمظلوم او زوریدلی ملت دنیکو هیلو او غوښتنو لپاره دبری په لور روانه کړی. په پای کی ددعوت مجلی کارکوونکو او دوستانو ته خصوصاً او دنړۍ ټولو مسلمانانو ته عموماً په افغانستان کی داسلامی انقلاب او جهاد دکامیابۍ مبارکی وایم. ستاسی دبریالیتوب په هیله!

ستاسی وروږمحمد نادر شاه

د باجوړایجنسۍ دشاه جهان آباد د دوهم نمبر کیمپ څخه جګړن فضل مولا «علمیار» صاحب لیکي:

ښاغلی ددعوت مجلې مدیر او نورو هم قدمو ملګرو!

اسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته !

له الله تعالی نه سوال کوو چه الله تعالی مو دصحت په جامه پټ او دقرآن او سنت په اشاعت او دعوت کی کامیاب او موفق لره!

محترمو: مونږ هر وخت ددعوت مجلې درارسیدو په طمع یو، دا ځکه چه دامجله ډیر په زړه پورې مضامین لري، داسلامي روزني لپاره په ښکلو مطالبو، دجیدو علماؤ او همدارنګه دشهید شیخ جمیل-الرحمن(رحمه الله) په زرینو وینا ګانو مشتمله وي. الله تعالی دی دامجله همداسې دقرآن او سنت داشاعت لپاره ترقیامته پورې جاري لري.

والسلام

جګړن فضل مولا «علمیار»

محترمو د دعوت مجلې لوستونکو ورونو!

سلامونو ته مو وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته وایو.

ستاسې دمیني او خلوص نه ډک لیکونه راورسیدل، درالیږلو موډیره ډیره مننه!

ورونو: د دعوت مجله ستاسې غوندې دبادرکه لوستونکو په وړاندیزونو او انتقادونو دترقۍ په لور روانه ده، مونږه نور هم پدې انتظاریو چه مونږ ته خپلې نورې نیمګړتیاوې او تجویزونه په ګوته کړئ چه مجله نوره هم ستاسې په نیکو لارښوونو ښکلې او ښایسته شي. ترڅو دعوت مجله وکولی شي چه پخپل اصلي مسیر دیوې علمي تګ لارې په لرلو سره وځرخیږي.

ستاسې د نورو لیکونو د رالیږلو په انتظار!

(اداره)

نبوی ارشاد

عن أبي هريرة ،رضى الله عنه قال: سئل رسول الله صلى الله عليه وسلم: أى الأعمال أفضل؟ قال: إيمان بالله ورسوله» قيل: ثم ماذا؟ قال: «الجهاد فى سبيل الله» قيل: ثم ماذا؟ قال: «حج مبرور»

(متفق عليه)

ترجمه: از ابو هريره رضى الله عنه روايت است كه گفت: ازرسول الله صلي الله عليه وسلم پرسيده شد كه كدام عمل بهتر است؟ فرمود ايمان به الله تعالى ورسولش. گفته شد باز كدام، فرمود جهاد درراه الله تعالى. گفته شد باز كدام؟ فرمود حج مقبول.

دنوی اسلامي حکومت له مسئولیتونو څخه

۱- قرآن او سنت باید د قانون اعلی مرجع وی، ځکه چه دایوازینۍ لارده چه ټول مسلمانان پری راجمع کیدای شی.

۲- په افغانستان کی باید په فوری توگه اسلامی حکومت قایم شی.

۳- داسلام په سیوری کی امنیت برقرارشی.

٤- دخلکو ورځنی ژوند له شرعی تعلیماتو سره سم عیار او شرعی حجاب په فوری توگه نافذ العمل شی.

٥-د پخوانی ملحد حکومت د بقایاؤ تصفیه دې وشی او له حکومت څخه دې لیری کړی شی.

٦- د اسلامی مسئولیتونو داداء کولو په غرض دې ټولو جهادی تنظیمونو ته امکانات او حقوق ورکړای شی .

۷- د اسلامی دعوت دنشر او اشاعت لپاره دې ټول وسایل په کار واچول شی.

۸- د دینی تربیی لپاره دې په کابل او ولایاتو کی دینی مدارس تأسیس کړای شی.

نوی اسلامي حکومت ته دجماعة الدعوة دهیئات وړاندیزونه